Kandahar. Kabul
Vol.11, No.11, Dalw 1349
(January 1971)



کندهار

زموږ د ګران هېواد د پایتخت کابل د پل خشتی مبارک مسجد جامع
چې زموږ د متدین او شریعت پالونکی ټولواک همایونی معظم اعلیحضرت په امر
او هدایت په عصری ډول ترمیم او ښکلی شویدی او د اسلام د مدنیت روڼ نمونه
ګڼل کیږی، کوم مواد چې د دغی ښکلی او تاریخی ودانی د ښکلا ته ئی سر او
سامان بخښلی دی په پورتنی فوتو کښی ښکاریږی ۰

ادبي نثره

زمازړه

داکوچنی ټوټه چی (زړه) نومیږی پدی کښی ډېر و ښکلو انسانانو تصورطوافونه کړیدی

هغه ډیری آرزوګانی چی پده کښی ځای نیولی دی نودزړه لوم نه ورسره ښائی بلکه ښائی چی دغوښو آسمانئی وبولو .

وده ته ډیرومحبتو کلیه راکړی ده او بیرته ئی کوچ ځنی کړیدی اولکه نورځینی زړونه پژ مرده شوی ندی .

په عوض کښی ددی چی دد نیادسرواوسپنوزرو په امیدفشار پرراسی دانسانی فرشتو په هیله ئی ځان زهیر کړیدی .

دلته چی هرڅه خواشینی راغلی ده دی ئی له خپل حال څخه ندی ګرزولی او په هر وخت او هروتودو اوسړو کښی تازه او متحمل وی .

دلته دجهان منافقینو اقامت ندی کړی هرڅه ئی چی کړی وی پریوه پاك اوبی آلایشه عشق بناوی او که وپوښتل شی د سپیڅلی عشق سره ډیر آشنادی .

دناوړه چاروسره لارنه لری اونه غواړی چی پرخپله سپینه جامه باندی توری ټپلی پیدا کړی .

ځکه چی دماهرویانو وارزوګانو ته همیشه تسلیم دی نوځکه ویلای شم چی «زمازړه یادماهرویانودلو بوآله» (هارونی)



ددیدار په هیله

زمامحبوبی ستادلیدو په غشی اوهغه لطف چی زماته دی وکتل تراوسه خوشحاله زړه لرم- که دجدائی په توره شپه کی زمادحرمان تودی اولرزانه اوښکی راتوی شوی نه ځه غم لری؟

دوصال ددرخشانه لمر پلوشی بریښی اوژرپه داوښکو دشبنم اثرات یوسی هغه به څوك وی چی دبشر دفراموش کاری څخه انکاروکړی؟

طوفانی اوخروښیدونکی څپی ددریاب وغیږی ته پناه راوړی اوسهاردساحل دځلیدونکو شغلواثرباقی نه وی .

نوئن چی موږ یودبله وداع سره کووهرڅونه چی سره لیری یو بیاهم دګلانوغوړیدوپه طراوت سره به یودبل په دیدار کاهیابه سو .

LIBRARY OF CONGRESS
ISLAMABAD OFFICE
18 APR 2005
CONTI...

دامتیاز خاوند : د طلوع افغان نشراتی مؤسسه
مسؤل مدیر : زلمی (بارک)

کندهار
میاشتنی خپرونه
ادبی ، تاریخی ، اجتماعی ، علمی
اداره : د شهیدانو واټ
د تاسیس کال ۱۳۳۹
د یوولسم کال یوولسمه ګڼه
پرله پسی ګڼه ۱۳۵

کالنی بیه
په کندهار کی [۲۸] افغانی
د هیواد په داخل کی [۳۲] «
په د باندنیو هیوادو کی یو ډالر
د سلواغی میاشت
۱۳۴۹ لمریز کال

د دې ګڼې مضامین

زما زړه	د پشتی دوهم مخ
په ټولنه کښی د نهضت نخښی	۱ مخ
په منځنی پیړی کښی د فرانسی ادبیات	۲ مخ
د سقراط تربیوی تجاهل	۵ مخ
لښکرګاه	۶ مخ
افکار	۸ مخ
د چهلغور د غونډی کیندنی	۹ مخ
د قدرت کارنامی	۱۱ مخ
د نړی د مشهورو شاعرانو مرګ	۱۳ مخ
د غوټی عطر	۱۵ مخ
ادبی مکتوبونه	« مخ
د هیواد د پیاوړی خطاط او محقق مؤرخ پیژند ګلوی	۱۶ مخ
خاطره	۲۱ مخ
سخن مجلی ته یوه کتنه	۲۲ مخ
د کوه نور الماس	۲۸ مخ
د خوب په عالم کښی	۳۰ مخ
نور می مه زهیروه	د پشتی دریم مخ

د کندهار دولتی مطبعه

په ټولنه کی د نهضت نخښی

څرنګه چی د طبیعت په جهان کښی ځینی مسلم قوانین دانتظام او اداري دپاره کار کوی .

دغه رنګه په انساني ټولنو کښی هم یو لړ نوامیس او مقررات وجود لری چی دجامعی نظم او ترتیب ساتی . دترقی او انحطاط دنیك مرغی او بدبختی علتونه او عوامل په خپل وخت او زمان کښی ښه ئی .

څرنګه چی یو منجم د استرو نومی د علم او ریاضیاتو له مخی په ټاکلی وخت کښی د سپوږمۍ یا لمر دنیولو خبر موږ ته راکوی یا یو نفر هوا پېژندونکی دمخه تر باران او د واوری اورېدلو څخه موږ ته د هغو دکیفیت او څرنګوالی وخت او نېټه راښئی .

دغه شان اجتماعی پوهان هم چی دټولنو دانحطاط او ترقی مرموز او سرارئی موندلی دی دجوامعو موقف ، حرکت او سکون پرمختګ او وروسته پاته کېدل موږ ته بیانوی . وخت او زمان ، علت او سبب ، ګټه او ضرر دناستی او خوځېدو موقع او لاری راته ښه یی ؛ که موږ ددې علم د روښانه څراغ په درلودلو سره د پخوانیو قومونو تیاره حالات وڅېړو او دهغه وخت داجتماعاتو په بطنو کښی ورننوزو ددوی د ژوندانه طرز او د افکارو څرنګوالی ځان ته معلوم کړو بیا به نو په اوسنی عصر کښی زموږ د حرکت او پرمختګ دپاره فکری اختلاف او د لاری بېلوالی مصداق پیدا نه کړی او په اکثریت سره به خپله دژوند قافله و منزل مقصود ته روانه ؤ . داچی زموږ فکرونه پاشلی او د ژوند دښېګڼی دپاره مو نظریات سره بېل او د تګ لاری مو سره جلادی .

د اجتماعاتو د مسلمو قوانینو څخه یو دادی چی : کله د ټولنو پر افکارو ، آدابو او د ژوندانه پر نورو اړخونو کلونه او پېړۍ تیری شی نو ذهنیتونه او عرف ؤ عادت او دژوندانه نور لوازم هم سم ورسره زړېږی دمثال په ډول څرنګه چی د یوې فابریکی ماشینونه تر یوه ټاکلی وخت پوری خپله وظیفه اجرا کولای شی او ځان ته استهلاك لری . کله چی ماشینونه زاړه او ترخپل وخت واوړی نو طبعاً خپله دنده په ښه توګه اجرا کولای نشی ، د همدې سببه د کارخانو خاوندان کال په کال دماشینونو زړې پرزې په نوو الیشوی او که چیری موږ تردې یو څه نظر لوړ کړو او د مادی شیونو وڅرنګوالی ته ځیر شو نو دا به په لومړی فکر ثابته شی چی په طبیعت کښی د هر شی دپاره وخت او زمان ټاکل شویدی او ترخپل ټاپی وروسته بیا په بله پرده کښی ځان ښکاره کوی .

د انسانانو فکر او ذهنیت او د ژوندانه نور مظاهر هم تردې ابدی قانون او تغیر ناپذیره ناموس لاندی دی هر فکر او هر ذهنیت دځان دپاره جلا وخت او بېل لوازم لری ، چی دخپلو مادی ظروفو په اندازه او طاقت سره چلاو او پرمختګ کولای شی .

کله چی زمانی او پېړۍ پر تیری شی او د طبیعت دناموس سره سم مستهلك شی بیا نو نه سم چلاو کولای شی او نه دانسانی ژوند او بشری جامعی دآرزوګانو په مجری پوهېدای

مترجم: محمدعلی «خواجه»

په منځنی پېړۍ کښې د فرانسې ادبیات

په منځنی پېړۍ کښې فرانسه د ادبیاتو مرکز ؤ. ایټالیا، بریتانیه، اسپانیا، جرمنی او نورو هیوادونو ته دهمدغه فرانسې څخه د شعر او ادب وړانګې خپرېدلې.

که څه هم پهدغو سیمو کې ژبې او د وینا طرز یو تر بله ډېر توپیر سره درلود خو پهمعنوی لحاظ تر اوسه لا لوېدیځه اروپا سره یوه ده.

دعلم او پوهې دنیا د بین المللی ژبې «لاتین» سره پوره یووالی درلوده. که څه هم د کلیسا نړۍ د دکترینې او نورو له څخه نه وه خالی خو سره له هغه بیا هم د یووالی تشکیل ئې درلود.

د درباریانو او شوالیه ؤ دنیا هم د سیاسی او شخصی شخړو سره سره یوه وه.

د ادبیاتو نړۍ هم د اولسی او کلیوالی تر اشعارو په ډېره لوړه مرحله کې پورته واقع شوی وه. د شمالی ایټالیا ادبی ژبه وروسته تر ایټالوی ژبې فرانسوی وه.

په منځنی پېړۍ کې دیووالی غوره سمبول الهی کمیډی حساب شوی چې په هغه کې پوهان، شاعران او د زمانې لوی خلك دهر کوټ څخه ددغه ځان ګړی جهان په چوکاټ کې ځای شویدی.

د روم لوېدیځ ایالت ته نژدې فرانسه وه د اروپا د منځنی پېړۍ ادبیات پهدغه سیمه کې دهغو دفکر او ادبی یووالی په عمومی توګه دفرانسې له خوا کنترول کېده.

شی.

کله چې داسې زوړ فکر اوزاړه ذهنیتونه دجامعې پر شئونو مسلطه وی، د افکارو تصادم او د ذهنیتونو جګړه شروع کېږی.

څرنګه چې هر نوی فکر زوړ فکر له منځه وړی او هر څوړ شی خپل ځای و نوی او ځوان شی ته پرېږدی نو ځکه د طبیعی نوامیسو په اساس په دې مبارزه کې نوی فکر بریالی او زوړ فکر ناکام دی.

هوښیاری او وخت-شناسه جامعې هغه دی چې لومړی دفکرو او دزوړ تیا وخت ورمعلوم وی؛ او دوهم و نوو ذهنیتونو ته بېله تصادم او جنجال څخه لار ورکړی. او خپل د ژوندانه اسباب او لوازم په نوی رنګ سره د سامبال او خپلې مدنی او اجتماعی چارې په نوی تهذیب د دینی اساساتو سره سم ودانی او تعمیر کړی.

که چیری یوه جامعه وخت نه پېژندونکی او قدامت پسنده وی او د زاړه فکر د لمنې څخه ئې لاس نه اخیستی نو دلته د نوی زمانې د ایجاباتو سره سم مدنی او تعمیری فعالیتونه راکد پاته کېږی چې دا عمل په جامعه کې د بحث او انتقاد تر عنوان لاندې عرض اندام کوی

ا-م «کرزی»

شوالیئی او شخړه غوښتونکی غړی

لکه څنګه چې انګلیسی ادبیات بیوولف سره شروع شوی ؤ همدارنګه د فرانسی ادبیات (د څو بی اهمیته مذهبی آثارو څخه پرته) د رولاند په سرود سره شروع کېږی.

دا شعر د هومر تر دورې لا ابتدائی دی د کلاسیك له تمدنه اود «ګریکو رومن» له تاریخه د (بیوولف) په اندازه بی خبره دی.

یوه حماسه ئی څلور زره مصرعی وی چې از انګی ئی د (شارلمان) د جنګونو له موضوع څخه پورته کېدلی. د کلاسیك محدود آثار چې په هغه کښی په نظر راځی ډېر کمزوری او آیت وپرك دی.

«اولاند» د قهرمانی شعرونو د یوه زړه لړ په څېر لیدل کېږی چې په لوېدیځه ټوله نړی کښی د آخ ؤډب او جنګونو سره تماس نیسی.

دغه ډول اشعارو ته (رومانس) ویلای شو دا ځکه چې د «رومانس» کلمه هغه شعر او نکل ته ویل کېږی چې د لاتینی ژبی پرځای د رومانس د ژبی (فرانسوی) ایتالیائی، اسپا-نیائی او داسی نور په یوه کلیوالی لهجی سره لیکل شوی وی چې په دغه صورت لږ غوندی جدی معلومیږی چې ځان ورته ورسوی.

په وروسته وختو کښی دا خبره خپل اهمیت څرګند کړ چې د دغه آثارو اساسی خصوصیت چې د مسائلو او حیرانونکی پېښو سره مېنه او علاقه ده، په ځان کښی نری.

د دغه اشعارو ډېر پخوانی شعر د شارلمان او د هغه د دربار سره تماس نیسی. دوی د نورو (رومانسو) سره د یونانی، رومی او تروجن د تاریخی او افسانوی قهرمانانو په باره کښی. همدارنګه د «ارتر» برطانوی شاه او د هغه د سردارانو په ماجرائی نکلونو سره وړاندی ځی.

په دې ځای کښی زموږ وینا د دوهمی ډلی په باره کښی ده:

پخوا تر هغه چې دا بحث شروع سی باید ووایو چې د پخوانی کلاسیك له آثارو څخه د کلتور او ثقافت له پراختیا څخه د نظم نثر منځ ته راتلل څرګندیږی چې په ۱۱ پېړی کښی شروع او په ۱۲ پېړی کښی ښه پوره وده وکړه.

په همدغه دوره کښی پوهنتونونو ډېره ښه بڼه غوره کړه. په فلسفه کښی د پوښتنی او تنقید روحیه پیدا شوه او اصلاحات یکښی وشول، دا د منطق او ماوراء الطبیعی فیلسوف آبیلارد زمانه وه.

په همدغه زمانه کښی د زده کړی لپاره لومړی ځل یونانی او رومی یو شمېر کتابونه ترجمه سول؛ همدارنګه د (جان سالیزبری) او ډېرو نورو لایقو متفکرینو او د یونان د پوهی د انکشاف دوره حسابیږی.

سرودونه هجویات او رومانونه په ډېره پیمانه منځ ته راتلل خو د دومره خبره ده چې هجویات او سرودونه چندانی دوام ونه کړل او رومانونه پخپل حال پاتی او مخ ته ولاړل.

د منځنی پېړی د جنګونو په زمان ډېر او تر ټولو لوی د تروی د رومانس د کلاسیك موضوع وه چې په ۱۱۶۰ کال کښی د فرانسی د شمال ختیځ سیمی شاعر (بنوادسنیت مور) په وسیله لیکل سوی او د دغه کتاب لیکونکی عقیده درلوده چې دا کیسه د هغه سړی نه چې تر «هومر» ئی زیات معلومات درلود اخیستی ده.

د تروجن ډله بېګناه ښځې او یونانیان خطرناك او تېری کونکی بولی ، سربېره پر هغه داسی عقیده لری چی د انسانانو په جګړو کښی دارباب انواع دشاملېدلو په باره

کښی د هومر په شان تېر وتلی نه دی؛ داسړی د تروی دبربادی دتاریخ دکتاب لیکونکی «داویس» نومیږی، څنګه چی د هغه دساده لاتین څخه څرګندیږی دنوموړی دغه اثر د

لاتینی ادبیاتو دانحطاط په دوره کښی لیکل شوی یو خیالی اثر دی چی چندانی باوری او مستند نه دی .

ددغه زمانی یوه بله ډېره هم شته، مګر نه دتروی په باب کښی؛ دهغه په شان تاریخی رومانونه په نوی پېړۍ کښی هم لیکل شوی دی ، لکه د تولستوی جنګ او سوله چی

غواړی دا خبره ثابته کړی هغه چاچی په حقیقت کښی پر روسیه باندی حمله کنترول او اداره کوله ناپلیون نه ؤ.

«بنوا» لکه د «داریس» دکتاب په شان د یو بل کتاب دتروی دجنګ یادداښتونو په نامه د «پکتیس» اثر څخه ئی هم استفاده کوله دغه دوهم اثر تر لومړی اثر ډېر ښه معلومیږی

خوددغه مستندوالی هم نه دی معلوم، داچی بنوا ددغو او غیر مستندو کتابونو څخه ولی استفاده کوله او دغه دده استفاده دنوموړی کتابو د قدر او اهمیت سبب شو پوره نه ده

څرګنده خو دمعلومات له مخی دغه کتابونه ساده او آسانه لیکل شوی وه او «بنوا» هم کلاسیکی معلومات نه درلود سربېره پر هغه د یو شاعر له پاره د «داریس» او «دیکتیس»

خیالی او رومانتیك سبك ډېر جالب او زړه وړونکی ؤ، که څه هم بنوا ددغه کتابو له ماخذ څخه کوم لیاقت او ابتکار له ځانه نه دی ښودلی خو بیاهم نوموړی کتابونه ډېر

مشهور او د قدر وړ وګرزېدل؛ په حقیقت کښی د «تروی رومانس» تاریخ او کلاسیکه کیسه د اروپا کلتورته بیا وروپېژندله.

دغه پېژندنی او ربط ورکولو اساسی ټکی د نوی زمانی سره د «ګریکورومن» کیسه وه، داهغسی کتاب ؤ چی د ۱۲ پېړۍ دلوستونکو د ذوق سره سم لیکل شوی او په

خیالی شعرونو کښی ئی د یو نوی ښوونځی په شان ؤ ، د «تروی رومانس» په ډېرو ژبو ترجمه شوی او ډېر لیکوال د هغه پر پل باندی نللی دی .

ددغه کتاب په څېر تاثیری او په زړه پوری دده خپل کتابونه ؤ خصوصاً د تروی د بربادی دتاریخ کتاب چی وروسته په ۱۳ پېړۍ کښی د کایدو د کولمنیس په قلم لیکل شوی

او په هغه کښی ئی د بنوا نوم هم نه دی یاد کړی ډېر نفوذ ئی پیدا کړ ، نوموړی کتاب د اغریقا په قاره کښی بی ساری نفوذ او موفقیت حاصل کړ اود تروی له رومانس

څخه ډېر زیات په ایټالوی، فرانسوی، المانی دنمارکی آیلنډی ، چک ، سکاتلنډی او انګلیسی ژبو سره ترجمه شویدی، د تروی کیسه ددوو لارو څخه بریتانیا ته ورسېدله.

۱- د ۱۳۴۰ کال په شاوخوا کښی پوکاچو د فیلوسټراټو په نوم یو شعر چی د تروی د رومانس یو صحنه ئی شرح ورکوله لیکلی ؤ داشعر چی د تروی دیوې نجلی په باره کښی

چی د یوه یونانی په کمپ کښی وه ویل سوی اوچاسر هغه اقتباس کړی د خپل کتاب د موضوع نوم ئی «ترولوس» او «کریسایډ» وټاکه .

۲- د یو لاتینی کتاب فرانسوی ترجمه په دغه باره کښی په ۱۴۷۴ کال د «ویلیم کاکستن» په وسیله په انګلیسی ژبه ترجمه شو

ښاغلی «نومیالی»

د سقراط تربیوی تجاهل

یوه سړی په بل پسی خورا په چټکی ځغستله، سقراط ئی د لیری په سترګه شو ځغلېدونکی سړی ورناری کړه چی: هـا تښتېدونکی راوګرځوه.

منګر سقراط پدې ناره پسی سر ونه-ګرځاوه او نه ئی د هغه سړی و نیولو ته هڅه وکړه.

ځغلېدونکی سړی چی تر سقراط پوری راورسېدی، نو ئی و سقراط ته وویل:

آیا غوږ نه اړی چی زما ناري دی اورېدلی وای، او هغه تښتېدونکی قاتل دی راګرځولی وای.

سقراط وویل: قاتل یعنی څه؟.

ځغلېدونکی: ناپوه! قاتل هغه چا ته ویل کېږی چی وژل کوی.

سقراط: اوس وپوهېدم یعنی قصاب.

ځغلېدونکی: ای بدبخته بی شعوره قاتل هغه څوك دی چی خپل همنوعه وژنی.

سقراط: ښه یعنی سپاهی.

ځغلېدونکی: آخ بی مغزه! قاتل هغه څوك دی چی خپل همنوعه په صلح او آرامی کښی وژنی.

سقراط: ښه نو جلاد ؤ.

ځغلېدونکی: اوه پهدې نا وهی! قاتل هغه دی چی خپل همنوعه په خپل کور بلکه پخپل بستر کښی وژنی.

سقراط: اوس پوه شوم، یعنی طبیب.

ځغلېدونکی سړی ئی ښه ستړی کړ او د خپلی ځغستا څخه را وګرزېدی او پرخپله تړه لاړ.

ښائی چی د «چاسر» د شعر دغه انګلیسی ترجمه اود هومر خپل اثر په تریلوس او کریسیډ کښی دالهام منبع ګرزېدلی وی.

نور رومانسونه هم لکه د آنیاس، تیز او اسکندر رومانسونه د نکلونو په عجیبو څېړلو سره دمنځنی پېړی دخلکو دذوق او اشتها سره سم ترتیب اوجوړ شویدی.

لـوی فیلسوف ارسطو چی د اسکـندر ښوونکی ؤ، د «کالیتز» پنامه یـو وراره درلود چی په فتوحاتو کښی ئی د اسکندر سره ملګری کوله او د هغه د فتوحـاتو تاریخ ئی چی بشپړ نه دی په یادګار پرېښ او د چی اوس له منځه تللی دی.

تر مـرګ وروسته اسکندر ډېـر ژر د فانتیزیانو لپاره ښه موضوع شو، په دې معنی چی دده عجیبی ماجراوی په ختیځ کښی د رومانتیك او خیالی کتابونو موضوع وګرزېدلی.

ددغه اثر په شان د «جولیس والیر» کتاب دی چی په هغه کښی اسکندر د هند د عجائباتو او ځینی نورو کیسو په باره کښی

ارسطو ته لیکلی ؤ؛ اوس هم د فرانسی د ګزنیك په ځینو کلیساګانو کی د ارسطو عکسونه د هندی حوری نجلی سره لیدل کېږی.

عبدالهادی (ا،ا)
د تاریخ پاڼه

د لښکرګاه د کتاب څخه

لښکرګاه

اوس د لښکرګاه یا لښکری بازار نوم ډېر اورېدل کېږی؛ ډېر خلك لښکرګاه ته تګ راتګ لری، ډېر خلك بیا د لښکرګاه د آبادی خبری کوی.

د هلمند د ناوې د آبادی په پلان کښی اوس بیا لښکرګاه مرکزیت پیدا کړیدی.

ولی؟ دا ځکه چی لښکرګاه نوی ځای نه دی، بلکه زموږ د وطن تاریخی ځای دی چی له پخوا څخه ډېر شهرت لری.

ښاغلی کهزاد زموږ د وطن مشهور مؤرخ او د لښکرګاه د کتاب مؤلف په یوه لنډ تاریخی بیان کښی لښکرګاه داسی معرفی کوی:-

لښکرګاه چی د بست په بغل کښی واقع ده د ۳۹۰-۳۹۴ هجری قمری سنی په حدودو کښی لومړی پلا د سلطان محمود غزنوی په امر او اراده سره آباده شوه، چی وروسته ئی زوی (مسعود) د لښکرګاه آبادی ډېری کړې او بیا ددوی اولادې د لښکرګاه د ښو ماڼیو او مجللو آبادیو څخه کار اخیست.

لښکرګاه د غزنی تر خرابی وروسته د غوری علاؤالدین د قهر او غضب په اور وسوه ځکه ترمیم شوه، بیا وسوځله او بیا ونیول شوه تر څو چی چنګیزی مغولانو د مځکی سره یوشی کړه، او ګوډ تیمور د اتم هـ، ق قرن په اواخرو کښی د لښکرګاه د ولو او بندو په وېجاړولو سره نه یوازی د بست او لښکرګاه ژوند ته خاتمه ورکړه بلکه په هغه سیمه کښی ئی د عمومی ژوند کمبله ټوله کړه.

ددې بیان تشریح

یا د لښکرګاه لنډ تاریخ

هغه وخت چی امیر سبکتګین د سلطان محمود غزنوی پلار په سنه ۳۶۶ هـ، ق کښی په غزنی کښی پر تخت کښېنوست، نوئی وغوښته چی خپل د حکومت دائره ارته کړی لومړی ئی د افغانستان شمالی ولایت خراسان او زمینداور په خپل تصرف کښی راوستل؛ پدغه وخت کښی بست او د هلمند منځنی سیمه د بست د ښار د دوو محلی حاکمانو په لاس کښی وه، او هر یوه غوښتل چی ددغی سیمی امارت د هغه بل څخه لاس ته کی.

د بست د ښار حاکم «طغان» نومېدی او دده دمخالف نوم «بای توز» ؤ.

بای توز غوښتل چی د طغان څخه ددغه ذکر شوی سیمی حکومت ونیسی نو ورته پورته شو.

طغان دخپل حریف تاب نه درلودی مخ پر غزنی رهی شو، اود سبکتگین څخه ئی کومك وغوښتی .

سبکتگین په څو شرطو سره د طغان پر خوا شو؛ مخ پر بست رارهی سو او بای توز ته ئی ماته ورکړه او طغان ئی بیا د بست امیر مقرر کړ ، ځکه چی وروسته طغان دخپلی وعدې څخه مخالفت وکی نو خبره وجنگ ته ورسیدله چی په نتیجه کښی طغان او بای توز دواړو د سبکتگین دلاسه وکرمان ته فرار شول، اولدغه وخته څخه دهلمند منځنی سیمه او د بست ښار چی آباد او مشهور ښارو د سبکتگین دحکومت تابع شوه .

پدې وخت د کښته هلمند سیمی چی سیستان یا سجستان بلل کېدی او مرکزئی زرنج ؤ، د محلی امیرانو له خوا اداره کېدی؛ دا امیران دصفاریانو له بقایاؤ څخه وه اود سامانیانو دنفوذ په وخت کښی د هغو تابع وه ، مگر کوم وخت چی غزنوی دولت قوت پیدا کی او سامانیان ضعیف شوه، نودغو امیرانو دخپل استقلال دعوه وکړه ، او هغه وخت چی سبکتگین په غزنی کښی د غزنوی کورنی اساس کښېښودی او ترماورای آمو او هلمنده پوری ئی دخپل نفوذ دائره ارته کړه .

نو په دغه وخت کښی د صفاریانو دپاته امیرانو څخه ابواحمد خلف ابن احمد په سیستان کښی حکومت درلودی .

کوم وخت چی سبکتگین د بست ترنیولو وروسته د هند په فتوحاتو مشغول ؤ ، نو «خلف» نامی له موقع څخه استفاده وکړه او پر بست ئی حمله وکړه، مگر پسله هغه چی سبکتگین له هنده راوګرزېدی نه یوازی ئی د بست ښار ځینی ونیوی بلکه مالیات ئی هم ځینی واخستل او وروسته ئی خلف وبخښی .

د سبکتگین د مړینی په وخت کښی «خلف» بیا د سرکښی خیال پیدا کی ، د ځینی ځایو لکه: پوشنج او قهستان په نیولو پسی شو .

په دې وخت کښی سبکتگین مړ شو، او زوی ئی سلطان محمود پر تخت کښېنوست .

سلطان محمود

سلطان محمود په (۳۹۰ هجری) کی د یوه لوی لښکره سره بست ته راغی او پر سیستان ئی حمله وکړه، او خلف ئی کلابند کړ ، خو بیائی وبخښی ؛ په دغه ډول څو واره نور هم (خلف) سرکښی وکړه او سلطان محمود به بیا وبخښی څو آخر ئی گردېز ته واستوی او هلته مړ شو او پر کښته هلمند یا سیستان هم د سلطان-محمود په وخت کښی د غزنوی دربار تابع شو

نو دغه وخت (۳۹۰-۳۹۴ھ) چی سلطان محمود دخلف سره مواجه شو او سیستان ئی ونیوی نو ددې دپاره چی سیستان وساتل شی د یوې عسکری چونی د آبادولو په فکر کښی شو

هغه ؤ چی د سیستان په مخ کښی ئی د بست څخه یو فرسخ لیری د هلمند پرغاړه لښکرگاه آباده کړه .

د سلطان محمود تر مرگ وروسته بیا سلطان مسعود په لښکرگاه کښی ډېری آبادی وکړې او ښه ئی ارته کړه او د غزنویانو په ټوله دوره کښی لښکرگاه آباده وه ، خو هغه وخت چی غوری کورنی عروج وکی او غزنویانو ته ئی ماته ورکړه .

نو علاؤالدین جهانسوز غزنی ونیوی او وې سوځی؛ بیائی د بست وخواته مخ کی او هغه آبادی چی غزنوی پاچهانو په دغه سیمه کښی کړی وې، ټوله ئی خرابی کړی چی

په دغه خرابیو کښی لښکرګاه هم ورانه شوه (۵۴۵ھ) خو بیا هم لښکرګاه تر لس، پنځاس کاله خرابی وروسته دغوریانو دنورو پاچهانو له خوا بیا ترمیم شوه او د ګذارې وړ وګرزیدله.

دلښکرګاه دوهمه خرابی دمغولو په وخت کښی پېښه شوه چی یو پلا چنګیزی لښکرو پایماله کړ؛ او بله پلا ګوډ تیمور په (۴۸۷ھ) دهلمند ټوله شاوخوا ترسیستان پوری داسی

خرابه کړه چی بیاچا ژوند پکښی ونه کړ او له هغه وخته تراوسه خرابه ده ځکه تیمور د بست او زرنج ټوله ولی او بندونه خراب کړه اود هلمند اوبه ئی له دغو آبادو ښارو

څخه قطع کړی چی په دغه سبب: انسان او نبات دګذارې امکان ورك شو؛ شنه باغونه او زرغونی مځکی وچ دښتونه شوه.

د وچوبی له جهته د خلکو ژوند سخت شو. زرنج، بست او لښکرګاه متروك شوه او خلکو کوچ وکی.

لنډه دا چی د هلمند د غاړی مشهور او معمور ښارونه چی یو وخت د افغانستان پر نفوسه برخی وی. دچنګیز او تیمور تر خرابیو وروسته داوبو دنه رسیدلو په سبب وران او

خراب پاته شول، څو اوس بیا دمتبوعه حکومت په توجه د هلمند دناوې اود لښکرګاه په آبادی کوتی پوری شوی او امید سته چی

بیا ژر خپل پخوانی جلال ته ورسیږی او د افغانستان د آبادو اوسرسبزو سیمو په قطار کښی به خپل ممتاز موقعیت وساتی.

دلښکرګاه داوسنی ښار عمارات د پخوانی زوړ عماراتو وشمال ته په ډېر ښکلی او ماډرن صورت شروع شویدی چی اوس بیا لښکرګاه دهلمند دغاړی مهم مرکزی ښاردی.

د «مړوند» تاکه

افکار

د زعدې ماتول:
چاچی یووار عهد مات کړ اضافه تردې باید اعتماد پرونه کړه شی. (شکسپیر)

پټه خوله:
ددې لپاره چی نور کسان خاموشی ته را وبولی، لومړی باید تاسو پخپله پټه خوله شی. (سنیکا)

ستر خدمت:
که یوه پردی سړی ته یوه ګوله ووډی به دې عقیده ورکړی چی ټوله انسانان یو د بل ورونه دی، نو بشری ټولنی ته مو ستر خدمت کړیدی. (...)

عدل:
عدالت د یوه کامل انسان د شرافت پاګه ده څوك چی ددغی نیکی عطیی خاوند وی کامل انسان، او څوك چی د هغه فاقد وی ناقص انسان بلل کېږی. (....)

دوستی:
هیڅ غلیم تر ناپوه دوست خطرناکه نه دی. (فونتن)

په دوستی کښی واقعی خوند سته، بدبینه کسان دالذت نسی څکلای. (....)

رحم:
پر هغو باندی چی پر مځکه ژوند کوی رحم وکړه څو هغه پرتا باندی رحم وکړی چی په آسمانو کښی دی.

محمد احسان «آرام»

د لرغون پېژندونکو د مؤسسی غړی:

د تاریخ یوه ګوښه

د چهلغور د غونډۍ کیندنی

د چهل غور غونډۍ د کندهار د ولایت د پنجوائی د ولسوالی په یوه برخه کښی واقع ده.

مخکښی تر دې چی د چهلغور د غونډۍ د کیندنو په باب چی هلته د جیمز امریکائی او زما له خوا کېږی څه ولیکو د کیندنو مفهوم د یوې مقدمی په توګه بیا نول غواړم.

د انګلیسی نامتو لرغون پېژندونکی د متل له مخه چی خپل د نړۍ د لرغون پېژندنی په کتاب کښی ئی لیکلی دی:

د کیندنی معنی د خلکو کشفول په هغه دوره کښی دی، نه د آثارو په لاس راوړل. ✡

سروی:

د یوه لرغون پېژندونکی د کار شروع چی د هغه په واسطه کولای شی ځان ته معلومات پیدا کړی داسی وی:

په نظر کښی نیول شوی حوزه یا غونډۍ په کومه دوره پوری اړه لری ښائی



د برونز د دورې خاورین لوښی، یو ډبرین مهر او یو د ډبرو لور د لاستی سره چی د چهلغور په سیمه کښی لاس ته راغلی دی.

د چهلغور د کیندنو حوزه چی درې نیم زره کلن تاریخ لری

د جیولوژیکی تصادف او یا د باران په واسطه آثار د خاورو څخه راوتلی وی په منځنۍ یا ژروستۍ برخه کښی واقع وی مطالعه کړی.

✡ په دې اساس هر لرغون پېژندونکی چی غواړی یوه سیمه تر کیندنی لاندی ونیسی، لومړی باید ځیر شی چی څه ډول سروی وکړی او څه ډول کیندنی شروع کړی.

بیلی، بیلی لرغونی دورې دیو او بل څخه جلا کړی څه رنګه آثار په مکمل او اصل شکل سره د سیمی څخه راوباسی.

وروسته تـردې چې ورته ثابته شوه چې خپل هدف ته رسېدلی دی په کار شروع کړی، عموماً تاریخي ځایونه د پورته څخه د کښتي وخواته کېندل کېږي.

د لرغون پېژندونکي دپاره چې غلطي ونه کړي د کار لومړی برخه دې یو پر یو یادوه پردوه خط کشي کړي، ددې دپاره چې کلچرونه ځنې ګډ نسي باید په لیر بندي شروع وکړي.

ددې دپاره چې د لیر آثار د پت سره ګډ نسي لومړی باید پت پاک کړي بیا په لیر پسې وګرځي. په هغه ځای کښې چې هر وخت دخاورو رنګ بدل شو، لرغون پېژندونکي باید ژر دلومړی طبقې آثار راغونډ اوبیا دراتلونکي آثارو په راغونډولو پیل وکړي؛ په دې ډول د تېرو دورو په کلچر او ژوند کښې مغالطه نه پېښېږي.

که دغه تیری شوی دورې سره ګډې شوې اودکیندنو په لاس راغلي آثار مات شوه؛ په نظر کښې نیول شوی آثار او معلومات لاس ته نه راځي.

اوس هغه کیندنې بیانوو چې دامریکائي «جیمز» اوزماله خوا په چهلغور کښې شویدی.

چهلغور:

موقعیت ئې: دشمال له خرائي قلعه سید. دجنوب له خوائي دسلوات غونډۍ یا دسلوات غار، د ختیځ له خوائي د مهاجرینو غونډۍ اود لویدیځ له خوائي بالاده پرته ده.

په تېرو لسو کلو کښې دغه سیمه د نور وسایتونو سره چې پر شاوخوائي راګرځېدلي دی، دامریکائي لرغون پېژندونکو له خوا سروی شوی وه اود لومړی ځل دپاره «جیمز شیفر» ددې غونډۍ په کیندنو او څېړنو پیل وکړ.

دنومړی دورې کیدنې د ژړو (برنز) په دورې پورې اړه لري.

ددې غونډۍ کیندنې عمودي شروع شوې اووروسته له یوې میاشتې د دېوالو اود هغه دخونو د ودانولو دطرز په موندلو بریالي شوو. دغه دېوالونه دپاخه دای څخه جوړ شوي وه، وروسته

دکیندنو په وخت کښې سپین خطونه مخ ته راغله، هر کله چې مو خطونه یو ځای کړه د خښتو شکل ئې غوره کړ، خو څرګنده سوه چې د زمانې په تېرېدو سره ئې د سپین خط شکل غوره کړیدی، او زموږ کارئې یوه اندازه آسانه کړ.

دا دېوالونه په مختلف شکل سره دي چې یوه کوټه د بلې سره نښلوي موږ وکولای شو چې د نومړی سیمې څخه لس کوټې لاس ته راوړو.

اوس په څه ډول پوهېدای شو چې دغه دېوالونه په کومه دوره پورې اړه لري.

کشف شوي آثار لکه تیکر پاکو دري د افغانستان دژړو ددورې په څېړ مزین شوي پیکه نصواري رنګ لري.

د برنز نوک لرونکي ټوټې قلمونه چاقوګان او غوټې چې د ډېرو څخه جوړي او ډېري ښکلي دي.

دغه آثار چې موږ ددغې سیمې څخه لاس ته راوړل ثابته شوه چې دېوالونه او دغه رنګه خپله سیمه د برنز په دوره پورې اړه لري.

باید وویل شي چې موږ دلته ۳۰ قبرونه هم پیدا کړل چې د قبر پیداسوی آثار هر یو کولای شو د برنز ددورې څخه وبولو؛ آثار لکه: غمې، ګوتمۍ په سره رنګ کشف شویدی ښائي چې عقیق وی او په بېلو بېلو رنګونو کوچنی او لوی مړی ددغه ځای څخه لاس ته راغلي دي اوددغو څېړنو او کیندنو څخه څرګندېږي چې د چهلغور غونډۍ یونیم زر کاله دمخه ترمیلاد دژړو په دوره پورې اړه لري.

محمد نبی «احمد وال»

د قدرت کار نامه

یعنی

د ساینس د نیا

قادر متعال (ج) چې د خپل قدرت په لړ کښې د مځکې هستۍ وغوړوله. د مځکې په هستۍ کښې ئې د خپل حکمت رمزونه او اسرار ځای کړه.

یعنی مځکه ئې د ابتداء څخه د خلقت د مرموزو او پټو اسرارو صحنه ګرزولې وه؛ دا د پاک خدای (ج) د قدرت هغه کارنامه وه چې د انسانی خلقت مخکښې د مځکې هستۍ ئې د انسانانو د ژوند لپاره آماده کړې وه.

په ښکاره توګه د مځکې هستۍ د ډول، ډول عناصرو څخه ترکیب شوې ده او هر عنصر د آټمی اجزاؤ څخه تخلیق شویدی.

هر آټم د شمسی عالم په څېر یوه کورنۍ ده چې د پروتون پر هسته باندې زایترونونه خپل منظم حرکت ته دوام ورکوی.

آټم د ابتداء څخه د خلقت د مځکې بیا تر اوسه پورې په دغه ډول ؤ او په دغه ډول به وی؛ ټوله عناصر ځانګړې خواص او ځانګړې آټمونه لري او د هر عنصر آټم ځان ته خواص ځان ته وزن لري.

د عناصرو ترکیب هم په آټمی قرارداد پورې اړه لري چې دا ترکیبی قرار-دادونه او د فارمولاوو تشکیل د پاک خدای (ج) د قدرت او حکمت هغه نمونه ده چې د ساینس عالم سر په سجده او غاړه په تسلیم ورته ایښې ده، چې دا ترکیبی عناصری قرارداد ونه او د فارمولاوو ډولونه د مځکې د تخلیق د طرحې سره یو ځای مطرح شویدی، یعنی د عناصرو د ترکیب، تحلیل، امتزاج، دفع طرد، سرعت، حرکت، سکون تخریب، تراکم، حلول، تجزا او نور داسې قوانین د انسان د خلقت ترمخه منځ ته راغلی او دې قوانینو په نړۍ کښې د انسان د موجودیت د ترمخه وجود درلود.

د ساینس او تکنالوژی د نیا ته توجه

هغه وخت چې پاک پروردګار (ج) د خپل مرحمت په لړ کښې د مځکې پر مخ د انسانانو موجودیت ظاهر کړ او انسان لره ئې د عقل فراست او ادراک ملکه وسپاره.

انسان د پاک پروردګار (ج) د حکمت صحنو ته متوجه شو د خپل تشبث او تجسس اود خپلو ورکړه سویو ملکو په مرسته ئې هغه مرموز او پټ اسرار چې د مځکې په صحنه کښې پټ پراته وه کشف او معلوم کړه او پخپله ګټه ئې کار ځنې واخیست.

مثلا هغه وخت چې انسان د مځکې پر مخ قدم کښېښود د خپل ژوندانه له مخې د احتیا-جاتو سره مخامخ سو، د دغه احتیاجاتو د رفع کولو د پاره انسان خپل تشبث ته دوام ورکی.

چې د خپل تشبث په لړ کښې ئې د ساینس او تکنالوژی لومړی مرحله منځ له راوړله.

څرنګه چې د انسان موجودیت بېله انسانی فعالیت څخه امکان نه درلود انسان د ګرمۍ، یخنۍ، لوږی، تندی او نورو انسانی احتیاجاتو سره مخامخ ؤ.

ددغو عواملو د منځه وړلو لپاره انسان د کور جوړول، د کالو جوړول، د کښت کرونده او د ځاګانو کیندل لازم وګڼل.

ددغو کارو د اجرا دپاره ووسایطو لره اړ وه د! وسایط لکه: کلنګ، تبر تېشه، بېلچه، اره او نور داسې؛ ددې وسایطو د جوړولو دپاره د ساینس او تکنالوژی علم لازم ؤ.

انسانانو په اول کښې د خپل عقل او ادراک په هرسته دغه علم د قدرتی مظاهرو څخه کشف کې او په کارئې واچوی؛ او خپل وسایط ئې یو په بل پسې د ساینس او تکنالوژی په درسته تیار کړل او په کار ئې واچول.

موږ پدې پوهېږو چې د ساینس او تکنالوژی دنیا د انسان د موجودیت تر دنیا مخکښې د قدرت په څېر د نړۍ د عناصرو په عالم کښې وجود درلود.

یعنې د ساینس او تکنالوژی دنیا د انسان د موجودیت تر دنیا قدامت لری.

هغه وخت چې انسانانو خپل موجودیت قائم کې د قدرت د مظاهرو څخه ئې د ساینس او تکنالوژی علم د خپلو ګټو لپاره منځ ته راووست.

څرنګه چې موږ مخکښې ولیکل چې انسانانو کلنګ تبر، اره، تېشه، بېلچه او نور وسایل د خپلو احتیاجاتو د رفع کولو دپاره جوړ کړل.

ددغو وسایطو د جوړېدنې لپاره فزیکی عوامل، کیمیاوی عوامل، بیولوژیکی عوامل، ژیولوژیکی عوامل او تکنالوژیکی عوامل په کاردی؛ د مثال په ډول: اوسپنه د اکسیداز څخه خالصه کول کیمیاوی عوامل غواړی. اوسپنه ټکول او پټیله ځنې تیارول فزیکی عوامل غواړی.

د سکرو جوړول بیولوژیکی عوامل غواړی د ځاګانو کیندل او ډبرې ماتول ژیولوژیکی غواړی.

د وسایطو په واسطه انرژی مصرفول تکنالوژیکی عوامل غواړی.

ددغه ډول عواملو د یوځای کېدو څخه موږ د ساینس تکنالوژی مفهوم اخلو.

ګرانو وروڼو!

د نن ورځې ساینس او تکنالوژی او د ساینس پرمختګ تک باید موږ په تحیر کښې وانه چوی.

ولې چې دا د پاک قادر خدای (ج) د قدرت کارنامه ده چې د انسانانو د خلقت ترمخه ئې د مځکې په هر عنصر کښې ځای کړی وه، او هر عنصر ئې دور کړه شوی خواصو له مخې د نورو څخه بېل کړی ؤ، یعنې ټوله عناصر ئې په بېلو، بېلو ډلو تخلیق کړی دی او هر عنصر ئې د آټمو څخه جوړ کړی دی، او هر آټم ئې د «پروتون» او «نایترون» څخه تشکیل کړی دی، چې نن ورځ انسانان د قدرت د مظاهرو څخه د ساینس او تکنالوژی په دنیا کښې د دغو آټمو څخه استفاده کوی او خپلې جوړې کړې سفینې اوراکټونه مدارته رسوی.

تاسې پدې پوه شی چې د آټم قدرت د مځکې د خلقت سره یوځای تخلیق شوی دی، او د ابتداء څخه د خلقت په آټم کښې دا قدرت ایښوول شوی دی.

یعنې د هغه خدایی قدرت دی چې آټم ته ورکړه شویدی

او نن ورځ انسانان د هغه څخه استفاده کوی.

د برق (برېښنا) موجونه دراډیو موجونه، د تلویزیون موجونه د راکټانو سوق کېدل، و مدارته د سفینو رسېدل او نورداسی ساینسی کارنامی چی د آټم پر انرژی بناء شویدی د پاك خدای (ج) د قدرت د کارنامو څخه دی چی انسانانو د خپل تشبث له مخی د پاك خدای (ج) د قدرت په مظاهرو پیدا کړی دی.

تاسی د مضمون د تذکاره څخه پوه سواست چی د ساینس او تکنالوژی دنیا د پاك خدای (ج) د قدرت د تظاهرو دنیا ده چی هر څومره ساینس وسعت پیدا کوی هغومره د پاك خدای (ج) پر قدرت باندی انسانان علم پیدا کوی او د پاك خدای (ج) عظمت او جلال انسانانو لره څرګندېږی او پوهېږی چی پاك پروردګار (ج) په څومره حکمت او علم سره دا د خاورو نړۍ پیدا کړی ده او په هر جز کښی ئی څومره علم ځای کړی دی.

بی له هغه چی انسانان د علم الفراسته الحدیث څخه مترجم «غروال»

د نړۍ د مشهورو

شاعرانو د مرګ نېټه

۱: هومیرونس یونانی شاعر د میلاد څخه ۱۰ قرنه ترمخه مړ دی.

۲: شکسپیر انګرېزی شاعر په ۱۶۱۶ کال کښی مړ دی.

۳: جان ملتن انګرېزی شاعر په ۱۶۷۵ کال کښی مړ دی.

۴: فرجل د لاتینی ژبی شاعر په ۱۹ ق م کال کښی مړ دی.

۵: شیلله د المان مشهور شاعر په ۱۸۱۵ کال کښی مړ دی.

۶: لارد بیرون انګرېزی شاعر په ۱۸۷۴ کال کښی مړ دی.

۷: «الیزابته» دا شاعره ښځه په ۱۸۶۱ کال کښی مړه ده.

۸: دانتی د اېټالیی لوی شاعر په ۱۳۲۱ کال کښی مړ شویدی.

۹: ادکارا امریکائی شاعر په ۱۸۴۹ کال کښی مړ شویدی.

۱۰: پرنس د انګلستان مشهور شاعر په ۱۷۹۶ کال کښی مړ دی.

۱۱: توماس مورد دا انګرېزی شاعر په ۱۸۵۳ کال کښی مړ شوی دی.

د پاك خدای (ج) علم او حکمت ته سر په سجده کښېږدی د بل مفهوم درك نسی کولای؛ حقیقتاً چی پاك پروردګار سزاوار د سجود او د لوړ عظمت او جلال خاوند دی.

د پاك پروردګار (ج) علم او حکمت ته انتها نسته او د خپل قدرت کارنامه ئی د لوی کائنات په دفتر کښی و ټولو مخلوقاتو ته عرضه کړېده چی پدې اړ کښی انسانانو هم خپل بیعت او سجود د عاجزۍ په توګه وړاندی کړی دی په آخر کښی د انسانانو له پاره د خدای (ج) څخه سمه لار غواړم والسلام.

پخې خبری

شجاعت د احتیاط وروسته د سعادت یو مهم شرط دی.

که شته من یاست، مرسته وکړی؛ او که شته من نه یاست نو تسلی ورکړی.

هر څوك چی د نورو د خیر او سرلوړی د پاره کوښښ کوی په حقیقت کښی ئی د خپل سعادت لپاره لاره پاکه کړېده.



چینی متل

که د ډېر عمر او تجربی خاوند یاست نو نصیحت وکه، او که ځوان یاست نو د نورو نصیحتو ته غوږ ونیسه.

کندهاری رشاد

د اوښکو څاڅکی

آ د اوښکو لطیف څاڅکی ! څه تاثیر نشته په تا کښی
نه دی روح د مینی یو کړ نه دی درد وموند په چا کښی
نه دی څوك پاڅول کار ته نه څه جوش شته کومه خوا کښی
نه څه عشق او حرارت شته نه دی هیچیری شور وموند
نه سینو کښی هیجان شته نه دی ورونو کښی اور وموند

ماول ته به زړونه نرم کړې گوندی لږ سره نژدې شی
جدائی به ترینه پاڅی له پردو بی مینی پرې شی
بیا به بیرته سوز و ساز وی د بېلتون روی به مړې شی
هم هغه خوب ؤ خدا ده نه څه سوز نه څه ویښتوب شته
نه نهضت نه اتحاد دی نه د مینی لېونتوب شته

مینه نشته یو له بله فقط کرکه او نفرت دی
لومی ږدو و یو بل ته دغه څه رنګه اخوت دی
آفرین مو پر تاثیر شه اوښکو ستاسی دا خدمت دی
اغیزه د نارو نشته اثر نه لری ژړا هم
نه هغو له خوا به ویښ کړو نه څه ګټه لری دا هم

د څاڅکی جواب

که له زړونو څخه را زېږم بیرته زړو ته ورتوئېږم
د دښت کاڼی به در مات که له سوزه پیدا کېږم
اور به بل کړمه په زړو کښی وار به وار پسی تودېږم
فقط سېل د تاثیر یم چی بهېږم په گرېوان کښی
اغیزه کښی می نقص نشته ته څه سوز مومه په ځان کښی
له ما واروی دا سړیو ! په ژړاؤ کښی تو پیر شته
د دردمنو په لمن کښی اوښکی نه دی جواهر شته
چی د زړه له تاوه زېږی له هغو پر زړو تاثیر شته
هیڅ می لار نشته و زړو ته (تقلیدی ژړا) می مومی
که دی سوز را سره مل وای ما څیرل د زړونو کومی
چی پر توښ راولم زړونه موثر نه یم نو څه یم ؟
یو بڅری یم سوځونکی زه د اوښکو څاڅکی نه یم
ویلی شوی یم له غمه یا ! بڅرکی نه یم زړه یم
رقت واړه له ما زیږی که د زړه له تاوه پاڅم
بل ځای نه لرم بی زړونو له باڼونه چی را څاڅم

د ټاګور اثر

دغوټۍ عطر

دغوټۍ عطرونو ناری کړی چی آه د پسرلی مستی ورځی تیریږی اوزه په خپلو پاڼو کښی بندی یم .

ای کوچنوټی هستی بی تابی مه کوه ستا شتمنی به ټوله ښکاره شی اوژر به دګل په شانی وغوړیږی او کله چی ته دځوانی او زلما په ټاپی کښی مړاوی سی وروسته تر تابیا پسرلی راتلونکی دی .

عطر سره وښوزیدی او دغوټی په غیږ کښی ئی ناری کړی . چی آه ساعتونه تیریږی اوزه لا تر اوسه نه پوهیږم چی چیری ځم او څه شی غواړم .

ای وړوکی هستی بلغاکی مه وهه .

د پسرلی بادونه ستا تر هیلو دمخه راروان دی تر څو چی ستا تقدیر بدل نه شی ورځ دماښام په تیاره کږدی نه ورننوزی .

راتلونکی زمانه وعطر ته تیاره شانته ایسی نو ځکه دزړه له در ده وائی آه که ژوندون معنی نه لری نو دا د چا ګناه ده ؟

کم سړی کولای شی چی ووائی زما وجود د څه شی د پاره پیدا شوی دی ؟

مترجم «ریدی»

✲ ❀❀❀ ✲

د ګوئیته اثر

کوم زیوره خوښونکی دی

دهغی ځوانی نجلی په ځیر کتن چی تاسی په هوس ځان ته بولی او هم دهغی مېخواری نجلی سترګی چه دشرابو جام ئی په لاس کی وی دواړه زړه وړونکی دی او هم د بادارانو سلام چی وخپلو مزدرانو ته یی ورواچوی او هم دمنی دلمر وړانګی چی بدن په تودیږی اما تردی ټولو هغه نګاه زړه خوښونکی ده چی یولویدلی ستاوخواته لاس در اوږدکی چی څه صدقه درنه واخلی .

ښه وهغه ته وګوره او دحق شناسی کتنه او د شوق او خوښی خاطر ئی ووینه چی هیڅکله دی صدقه ورکول هیرنه سی .

د پیغلی «فریدی» ترجمه

مترجم م - س

ادبی مکتبونه

کلاسیزم (Classicism e)

د کلاسیک کلمه صفت دی چی د لاتینی کلمی کلا یکوس (Classicus) چی دلمړی درجی معنی لری اخیسته شویدی .

کلاسیک په وسیعه معنی پر هغه ملی او مملکتی اشعارو مشتمل دی چی دیو مملکت ملی افتخارات جوړوی پدی صورت نو د پخوانیو زمانو لیکوال او ادبا پدی لړ کی راوستلای شو که څه هم بعضی په کلاسیک پوری اړه نه لری او د کلاسیک څخه ئی مخالفت هم کړیدی .

اما د کلاسیک د کلمی حقیقی معنی د رومانتیک په مقابل کی استعمال شوی ده .

د کلاسیک او رومانتیک دوی کلمی چی د قرابت او نژدیوالی په سبب علاوه سره مخالفی دی .

کلاسیک هنر هغه د روم او یونان چی د ۱۸ قرن شعراؤ دغه هنر د خپل ځان د پاره سرمشق کړی چی د (رنسن) او په شعر کی (بوالو) انتخاب کړی دی د بوالو په عقیده شعر دری برخی لری عقل ، سلیم ذوق ، طبیعت اما کلاسیزم هغه دی چی طبیعت د عقل سره تطبیق کی .

د غلام فاروق «انورزی» په قلم

د هیواد د پیاوړی خطاط

او محقق مؤرخ پیژندګلوی

د افغانستان او وقلمی پیاوړی خطاط استاد
عزیز الدین وکیلی پوپلزائی

استاد عزیز الدین وکیلی پوپلزائی د دولتی مطبعو د عمومی خطاطی آمر چی د ۳۳ کلو راپه دی خوا د وطن په مطبوعاتو کښی پر له پسی خدمت کوی نوموړی د یکشنبی په ورځ د ۱۲۹۷ کال د وږی د میاشتی په ۱۶ نیټه د ۱۳۳۶ قمری کال د ذیحجی د میاشتی د لومړی ورځی سره سم د کابل د چاردهی د دیوان بیګی وکیل الدوله سردار عبد الله خان په کلا کښی زیږیدلی دی دده اصلی ځای کندهار دی بزرګوازه نیکه ئی په ۱۱۸۶ قمری کال کی د اعلیحضرت تیمور شاه درانی سره کابل ته تللی و او بالا حصار ته ئی نژدی استوګنه غوره کړه نیکه ګان ئی چی ټول په سلطنتی دربار کی شامل او د لوی لوی منصبو نو خاوندان وه په کابل کی پاتی شول .

د کندهار د دغی لوئی کورنی د احوال څرنګوالی د درانی تیمور شاه د تاریخ د کتاب په دوهم کوکښی او د درة الزمان تاریخ د فرمانونو، مأخذ او متعبرو مدارکو سره بشپړه شرح ورکوی .



استاد عزیز الدین وکیلی

استاد وکیلی پوپلزائی د وکیل الدوله په تاریخی کلا کښی اوس هم استوګنه لری .

نوموړی د ۱۳۱۷ شمسی کال له اول څخه د عمومی مطبعی د خطاط په حیث مقرر شو .

د ۱۳۱۸ ش کال د مرغومی په میاشت د مطبوعاتو د مستقل ریاست له خوا د معاش په زیاتوالی د فنی خطاط په نوم پخپله وظیفه باقی پاتی شو . بیا د ۱۳۱۹ ش کال د لیندی په میاشت د حقوقو او سیاسی علومو په فاکولته کښی د خطاط په صفت مقرر شو ورپسی د ۱۳۲۱ کال د لیندی د میاشتی د لومړی نیټی څخه د پوهنی د وزارت د نبوونی او روزنی د ریاست خطاط او د شپږو کلونو په اوږدو کښی د هغه وزارت د مطابعو د خطاطی کارونه ئی پای ته رسول .

د ۱۳۲۵ ش کال د تلی د میاشتی په اوله د عمومی مطبعی د خوش نویسی متصدی او د ۱۳۳۱ کال د مرغومی په میاشت کی د هغی مطبعی د آرت او صنعت مدیر مقرر شو .

د ۱۳۳۳ کال دوږی په میاشت کی د کابل کالنی د مدیر پحیث مقرر او د هغه ضرورت له مخی چی مطبعی یوتن لومړی درجه خطاط ته درلود پخپل فنی او مسلکی کار باندی باقی پاتی شو.

وروسته بیا د ۱۳۴۲ کال دوږی په میاشت کی د دولتی مطابعو دارت او صنعت عمومی مدیر او د ۱۳۴۷ کال په سنبله کی د خطاطی د عمومی آمر په حیث په دوهمه رتبه ئی ترفیع وکړه چی تر اوسه پوری دغه خپله وظیفه لکه څنګه چی ښائی پرمخ بیائی د دولتی مطابعو د مرکز او ولایاتو د اخبارونو ټولی سرلوحی، د پوهنی د وزارت د یپلومونه، تصدیقونه او بری لیکونه، د ترفیع او تقاعد کارتونه، تقدیرنامی پادشاهی اعلانونه، اعتماد لیکونه، د میلمستیا کارتونه جنتری او د کتابو او مجلو پشتی ټوله دده په قلم لیکل شوی او د محراب او منبر نښانونه هم ده رسم کړی دی او دده د ماهر و ګوتو محصول دی او هم د سلطنتی دربار د وزارت د خطاطی چاری د نوموړی د رسمی وظیفی څخه شمیرل کیږی او د خارجه چارو د وزارت د خطاطی ځینی مهم فرمایشونه هم په ده پوری اړه لری.

هغه مهرونه او ټاپی په رسمی دفترو کی لیدل کیږی او هم د انفرادی کسانو لکه مغازه لرونکی او د رملتونو لوحی چی په مرکز کښی لیدل کیږی د هغو ټولونو شتی دده د قلمی آثارو څخه دی.

د استاد وکیلی د نقاشی او خطاطی آثار لومړی ځل د ۱۳۴۷ کال د زمری په میاشت کی د کابل ښاروالی په سالون کښی او د دوهم ځل د ۴۸ کال د خپلوا کی د جشن په نندارتون کی د ننداری لپاره کیښښودل شول چی د هغو په لیدنه خلک حیران پاتی شول

چی د کابل ورځپاڼو د هغو په ستاینه کښی ډیری خپرونی وکړی د ښاغلی عزیزالدین د دغه هنر نو آستاد دده خپل پلار حاجی نظام الدین خان د حضور ناظم او د افغانستان انقلیاتو پخوانی ناظر ؤ چی په اوه کلنی کښی ئی نوموړی په ۱۳۰۴ ش کال کی د لیک او لوست سره آشنا کړ.

خصوصی ښوونکی ئی په کوچنی والی او ځوانی کښی ملا شرف الدین ملا محمد حیدر، مولوی جمال الدین کندهاری، ملا عبدالمجید ارغندهی، ملا عبدالروف، او قاری عبدالرازق خان وو چی له هغو څخه ئی عربی او دری کتابونه لوستل او حساب ئی زده کاوه.

څنګه چی په چاردهی کښی ښوونځی نه وپلاری ئی انتظار کیښ چی خپل زوی په لس کلنی کی د کابل ښار په یوه ښوونځی کی شامل کړی.

خو تراړ ودوړ وروسته ئی د ځینو معا زیر له کبله ئی ونه کړای شو چی په رسمی ښوونځیو کی خپل تحصیل ته دوام ورکړی

څرنګه چی ښاغلی وکیلی په وړکتوب کی د سالم شوق او پراخ فکر خاوندو

نو په خصوصی درسونو باندی د شخصی ښوونکو څخه په تیره بیا په لیک کی د خپل پلار ترستر ګو لاندی په ډیر دقت سره لګیا شو.

دی وائی کله چی د رسمی تحصیلاتو موقع راته پیدا نشوه تر هغه وروسته ډیر خوښ شوم دا ځکه چی د ښوونځی د تعلیماتو په ترڅ کښی دا امکان نه ؤ چی قلمی صنعت د بشپړتیا او اختصاص و مرحلی ته ورسوم. څنګه

چی تر ماښام پوری لیک کاوه پلار به می ویل د لوح وقلم پیدا کونکی دغه جاویدانه دولت تا ته سپارلی ښائی قدر ئی وپیژنی او خپل خوږ ژوند په بی خبری سره تیر نکړی او ویل به ئی چی موږ له پخوا څخه د قلم ډوډی خوړلی ده او د قلم د لورنیو اولادونو ته ښائی چی د قلم خاوندان وی.

دعثمانی دوری چاپی اثارچی دسراجیه په دوره کی دکابل له دربار څخه راټول شوی و دمیر عبدالرحمن دلیک دقطعاتو اودقبالو اوفرمانو نو پاڼی به ئی په ډیر احتیاط زما په مخ کښی ایښودل .

دعبدالله زاهدی، شیخ محمد عزت او شیخ عبدالعزیز رفاعی دلیکو نو دقطعاتو ښه والی چی دکوچنیوالی څخه زما په سترګو پاتی شوی دی نه مې هیریږی .

دوه کاله مې دزرین قلم محمد اسحق خان څخه سر لیک اخیستل او خپل خط نه مې دهغه په ملا حظه رساوه ترڅو چی پخپله ئی معذرت وغوښت او ویل چی ستا لیک زما ترسویی لوړدی لازمه ده چی دخطونو په اقسامو کی هغه د لویو استادانو او دعثمانی ددوری طرز او روش تعقیب کړی .

استاد وکیلی وائی دمهرونو اود ۱۸ پیړی دمسکوکاتو نقشونه، پخوانی فرمانونه، قلمی نسخی دخط او تاریخ په هنر کی زما سره ډیره مرسته کړی ده او دډول ډول کلکسیونو په راټولولو کښی هم ځان دخپل پلار داحسان تابع ګڼم .

او س چی دخط او تاریخ هره پاڼه لیکم پلار می دهغو توضیحاتو او کلماتو سره چی په هره برخه کی ماته ښودل زما په سترګو کی حاضر وی .

اودغه پلارنی او استادی دحقوقو په احترام چی دوطن او پاچا دخدمت په لار کښی را باندی لری دهغه عکس می په دولتی مطبعه دخپل کار په کوټه کښی مې ځړولی دی .

استاد وکیلی چی د ۱۳۴۱ کال دلړم په میاشت کی دمعظم همایونی اعلیحضرت له مبارک خولی په او قلمی خطاط لقب سرلوړی شوی دغه مطلب داثبات لپاره داسی وائی .

په اسلام کی خط او ډوله دی چی دثلث، محقق توقیع، ریحان، رقاع، نسخ او تعلیق په نومو سره منځ ته راغلی دی چی په اصطلاح سره او قلمه ویل کیږی او دعربو په ژبه خطوط سبعه او په دری ژبه هفت ګانه خطونه نومیږی .

دلیک دفنی استادان دنسخ او تعلیق له خطونو څخه یو بل په زړه پوری خط منځ ته راوړی چی لومړی دنسخ او تعلیق په نامه او وروسته دخبرو داسانتیا لپاره دنستعلیق نوم ئی ورباندی کیښودل .

داوواوخلورو عدونه چی په اسلام کښی قدسیت لری داوواصطلاح له هغه څخه مشهور پاتی شوی که نه وی دغه نستعلیق خط اتم دی دعربی او خراسانی دری دخطونو په اقسامو کښی هر څو مره چی مختلفی طریقی ومنځ ته راغلی څنګه اساس ئی هغه مشهور او خطونه دی نو ځکه په هغه نوم سره یادیږی او هغه قطعات چی زه په لاس کی لرم تر ۲۱ مارزه پوری عملا لیدونکی ته شمیرم .

کوفی خط هم چی په یوم سره یادشوی هغه هم دځان لپاره او مختلف طرزونه لری چی زما دلیکونو پارچی هغه ثابتوی .

دهمایونی معظم اعلیحضرت دمبارک فرمان په اساس د ۱۳۴۲ کال دتلی میاشتی په ۲۳ نیټه دلومړی ځل لپاره دتاریخ دانجمن او د باختر آژانس له خوا (دافغانستان داوه قلمی خطاط) لقب په رسمی توګه زما په نوم اعلان شو .

او قلمه یعنی د اسلام داوو خطو لیکونکی : په افغانستان کی تر اوسه پوری چا ته دغه لقب ندی ورکړه شوی .

پو پلزی وکیلی د ۱۳۳۷ کال دخپلواکی په جشن کی دمطبوعاتو دمستقل ریاست دتصویب په اساس دخطاطی داستاد لقب ګټلی دی .

دی وائی . دتورو او سپین دتزئیناتو په هکله

چې د طباعت د اختصاصي کارو څخه ګڼل کیږي پوره لاس لرم او د پخوانۍ او اوسنۍ اصول سره سم د دې زاین کار کولای شم ،

د خط او رسم په مختلفو اقسامو کښې هر څومره چې یوتن رسام ماهر هم وي تر څو چې د طباعت په اصول وزنه پوهیږي د هیواد د معارفو او مطبوعاتو احتیاجات نشي لیږي

کولای او پخپله د دغه عصري طباعتي فني نقاشي او خط طي په صنعت سره افتخار لري .

استاد وکیلي پوپلزي چې د نقاشي او خطاطي په څنګ کې کوم بل کار تر سره کړی دی هغه د لسو مستند و تاریخي اثرو تالیف د ی چې

په دې ځای کښې یوازې د هغو فهرست لیکل کیږي .

۱ - د درانی تیمور شاه تاریخ په دوه ټوکه کې (په ۱۸ پیړۍ کښې د افغانستان د ټولو افتخار اتو په شمول)

۲ - د درانی زمان شاه تاریخ .

۳ - د افغانستان د مطابعو او مطبوعاتو تاریخ .

۴ - په دووو روستیو پیړیو کښې په افغانستان کې د لیك هنر .

۵ - اعلا دیوانونه (سلطنتي دفترونه)

۶ - د کندهار د خرقې شریفې تاریخ .

۷ - د افغانستان د لومړی امپراطوری وارث احمد شاه بابا .

۸ - د افغانستان د پاچاهانو او خلکو علاقه د (بیدل) د آثارو او شخصیت په باره کې .

۹ - د دولتي مطابعو د پاره د څلور و زرو حرفونو مجموعه .

۱۰ - حیات عزیز (یعنې اوسنۍ تاریخ په څلورو ټوکو کې چې ۱۶ کاله د استقلال تر ګټلو راوروسته کلونه په برکښې نیسي .

پوپلزي استاد وکیلي د خپلو خاطراتو په لړ کښې هغه ټول انعامونه ، تقدیر نامې او تشکر لیکونه چې د ۳۲ کالو خدمت په دورو کې ئې اخیستي دي د طلوع افغان د ورځپاڼې خبریال ته داسې یادونه وکړه .

۱- د ۱۳۱۹ کال د چنګاښ په میاشت کې د همایوني معظم اعلیحضرت له حضور څخه د بخشش په اخستلو .

۲- د ۱۳۲۰ کال د مرغومي په میاشت کې د همایوني معظم اعلیحضرت له حضور څخه د بخشش په اخستلو .

۳ - د ۱۳۲۰ کال د مرغومي په میاشت کې د حقوقو او سیاسي علومو د فاکولتي څخه تقدیر نامه .

۴ - د ۱۳۲۱ کال د لړم په میاشت کې د حقوقو او سیاسي علومو د فاکولتي څخه تقدیر نامه .

۵ - د ۱۳۲۲ کال د مرغومي په میاشت کې تقدیر نامه او د معاش زیات والی د والاحضرت سردار محمد نعیم د پوهنې د وزیر او د صدارت د مرستیال له خوا .

۶- د ۱۳۲۶ کال د ټلې په میاشت کې د همایوني معظم اعلیحضرت له حضور څخه د بخشش په اخیستلو .

۷ - د ۱۳۲۸ کال د ټلې د میاشتې په لومړۍ نیټه تقدیر نامه او نغدي بخشش د والاحضرت غازي سپه سالار صدراعظم له خوا .

۸ - د ۱۳۲۹ کال د غبرګولي په میاشت کې تقدیر نامه نغدي بخشش د والاحضرت غازي صدراعظم له خوا .

۹ - د ۱۳۳۱ کال د وري د میاشتې په شلمه نیټه تقدیر نامه د پښتو ټولنې د ریاست له خوا .

۱۰- د ۱۳۳۳ کال د چنګاښ په میاشت کې تقدیر نامه او نغدي بخشش د والاحضرت سردار محمد داؤد صدراعظم له خوا .

۱۱ - د ۱۳۳۳ کال د ټلې د میاشتې په ۱۸ نیټه د ریمه درجه تقدیر نامه د مطبوعاتو د مستقل ریاست له خوا .

۱۲ - د ۱۳۳۸ کال د سلواغی په میاشت کی دریمه درجه تقدیرنامه د مطبوعاتو د مستقل ریاست له خوا .

۱۳ - د ۱۳۳۹ کال د مرغومی په میاشت کی نغدی بخشش د معظم همایونی اعلیحضرت له حضور څخه .

۱۴ - د کابل بناروالی له خوا د پل خشتی د جامع جومات د شاوخوا کتیبو د لیکلو په نسبت پنځه ویشت زره افغانی بخشش .

۱۵ - د ۱۳۴۳ کال د سلواغی د میاشتی په ۲۷ نیټه د عدلی وزارت له خوا تقدیرنامه .

۱۶ - د ۱۳۴۳ کال د کب د میاشتی په ۹ نیټه د ننګرهار د کانال د ریاست له خوا امتنان لیک او نغدی بخشش .

۱۷ - د ۱۳۴۷ کال د چنګاښ په میاشت کښی د همایونی معظم اعلیحضرت له حضوره نغدی بخشش .

۱۸ - د ۱۳۴۸ کال د سلواغی د میاشتی په اتمه نیټه دریمه درجه تقدیرنامه د اطلاعاتو او کلتور د وزارت له مقام څخه .

هغه نښانو نه چی استاد وکیلی پوپلزی د همایونی معظم اعلیحضرت له حضور څخه د هغو په اخیستلو بریالی شوی دی :

۱ - د هنر نښان .

۲ - د پوهنی نښان .

۳ - د مینه پال لومړی درجه نښان .

هغه مطبوعاتی جائزی ئی چی وکیلی پوپلزی اخیستی دی .

۱ - د ۱۳۳۵ کال دوری په میاشت کی .

۲ - د ۱۳۳۷ کال د سلواغی په ۲۶ نیټه .

۳ - د ۱۳۳۸ کال د کب د میاشتی په ۱۹ نیټه .

څنګه چی د هغه د آثارو او لیکنو څخه څرګندیږی په آخره درجه شاه دوست، وطن پالونکی او د وطن د لویانو قدرپیژندونکی دی .

همدارنګه معارف پالونکی پاچا او د سلطنتی درنی کورنی د دغه شخصیت او د هغه د آثارو موجودیت ته د قدر په نظر ګوری .

ښاغلی وکیلی کله کله په دری ژبه ډیر اشعار ویلی دی دغه شعر چی د کندهار په ستایلو کی ئی ویلی دی ګرانو لوستونکو ته وړاندی کوو

چه خوش گفت بلبل بآن قندهار
که ای بحر رحمت ایا جویبار
باین جوش غیرت زمان از توشد
باین موج نهضت جهان از توشد
بهمان کس که این نهر رضوان کشید
سر قصر شاهان بکیوان کشید
شهنشا افغان وآریان وی است
سلیمان دوران وخاقان وی است

دغه لاندنی نظم ئی د خپل آبائی ټاټوبی د ثبات د پاره ویلی دی چی په هغه کی ئی خپله مینه او علاقه د قندهار او کابل په نسبت ښودلی ده

قندهار خلد آسا قبلهٔ اعلای ماست
اشرف کل بلاد و مرکز آبای ماست
ما ز معروفیم و معروف از جهان نام و ننگ
خاکریز از ما و خاکش سرمهٔ بینای ماست
ما از آن شهریم کانجا خرقه پاک نبی (ص) است
ما از آن بحریم کانجا گوهر والای ماست
صورت شهر صفا در صفحهٔ جان و دلم
نعرهٔ هنگ و سپاه در پرده های نای ماست
ما ز ملک زابل و غزنه رسیدیم اینطرف
چارده اندر نگین و شهر کابل جای ماست
قلعه های آهنین در هر جا کردیم طرح
افتخار این وطن از ماضی و فردای ماست
هر کجا باشیم خاک قندهار منزلگه ماست
هر کجا گردیم کابل مسکن و ماوای ماست

استاد وکیلی په یوه رباعی کی قلم ته داسی خطاب کوی .

قلم ای آنکه بخود سخت دو چارم کردی
شاه اقلیم خط و نقش و نگارم کردی
بنمودی چو بمن معنی کابل (ظاهر)
صاحب حشمت و همصحبت یارم کردی

وکیلی پوپلزی په اوسنی پیړی کی ځان دلیك په فنی کی مسلم الثبوت استاد بولی اووائی که څوك ددغه ټکی سره موا فقه نلری زه چمتویم چی دعالمانو په لوی مجلس کی عملاً امتحان ورکړم .

له همدغه کبله په دوو کلکسیونو نو کښی دلیاقت اومو فقیت دځر گندولو لپاره سندو نه ئی راټول کړی دی .

دافغانستان ټولو ادبیانو او فاضلانو چی لیکونو ورته لیږلی دی د معظم استاد د. فاضل استاد، دمشهور اوه قلمی خطاط، بی مثله هنرمند اوخطاط اودغسی نورو القابو سره یاد کړی دی استاد وکیلی دهما یونی معظم اعلیحضرت دمبارك نوم طغرا په دپرشو ډولو سره لیکلی دی .

استاد وکیلی دخپلی قبیلی په باره کی وائی فوفل دپوپل معرب اویوډول گل دی ابدالی محمد سلیمان چی په زیرك سره ملقب دی دهغه گل نوم پخپل لومړنی زوی باندی کیښود او اساساً باید چی پوپل وویل شی خو ځنگه چی دابدالی طایفی مشر انو پخپلو معتبر اسنادو کی په عمومی توگه (فوفل) لیکلی دی نوله دغه نقطی نظره چی دافغان دتاریخ دپاچاهانو اولویو شخصیتونو د معتبر او مستندو اسنادو ویاړنه شی له هغو څخه خپل مخالفت روانه بولم .

استاد وکیلی دخپلی مورنی خوږی ژبی پښتو سره ډیره مینه لری وائی چی دخپلی خطاطی په لومړی دوره کښی حروف اودپښتو رسم الخط می دکندهار په مخصوصه طریقه اوهم دخراسانی نسخ په سبك اودعثمانی په سبك بشپړ اوژوندی کړ

نوموړی استاد داد عا کوی چی د خپل رسمیت دسوابق، لیکوالی اودخپلی کورنی دقرب اومنزلت داثبات لپاره دکران افغانستان دشپاړسو پاچاهانو په مهر اولاس لیك سره سندونه په لاس کی لری .

استاد وکیلی دهمایونی معظم اعلیحضرت دنوازش اومهربانی څخه ډیر ممنون دی او دطلوع افغان دورځپانی خبریال ته ئی وویل دسپرکال دزمری په میاشت کی دریزش ناروغی راباندی زور شوی ؤترڅو چی دابن سینا په روغتون کی بستری شوم دمعظم اعلیحضرت حضور ته داخبره ورسیده شاها نه ذات خپل دحضور سریاور دابن سینا روغتون ته را ولیږی اوداخبره ئی دصدری کلینیك آمر ته تاکید کړ .

(دغه لوی خطاط اودانشمند زموږ لپاره یوه هستی ده اودهری هستی ساتونکی لوی خدای دی خوتاسی خپل انسانی کوشش وکړی تر څوچی داهستی زموږ له لاسه ونه وزی)

پای

نوی خیال — ادبی نثر

خاطره

هر څه چی په ژوندکی خوشحالی راوړونکی دی ژر تیریږی اوهیریږی لیکن هغه خوږی خاطری اودلپزیره رویاوی چی زماؤ ستا محبت پکښی پروت دی هیڅ موله یاده نه وزی لومړی ورځ چی ستاسره مخامخ شوم او په ځیر می درته کتل تر اوسه می نه هیریږی اوزما په ذهن کښی ځلیږی .

هغه ساعتونه چی زړه به می دمابنام څخه ترسهاره ستادمرستی په انتظار کښی بی تابی کول هیڅ دیاده نه وزی .

☆✡☆

ای دآسمان نجونو!

هر مابنام چی پر آسمان باندی ځلیږی او خلك په خپلو چشمکانو دآینده دپاره امیدواره کوی نوتاسی می دتیرو خاطرو شاهدی یاست کله چی تاسی ته وگورم تیری شوی خاطری راپیادیږی .

ای ملایم اوزړه تازه کونکی نسیمه !

کله چی په چلیدلو کښی دزړه خوښونکی بوی زمادمنشاء څخه منبلوی نوستادوستاره یم .

سخن مجلی ته

یوه کتنه

عبدالرحمن «بلوڅ»

(۱۴) د (C.V.D) دایرة المعارف په خپل لومړی ټوک کی څرګندوی چی بلوڅی یو داندواریایی (Indo-Iranion) ژبه اوداژبه په شرقی آریایی کورنۍ کښی شامله ده .[۱]

(۱۵) د ۱۸۲۹ کال دامریکا نادایرة المعارف څرګندوی چی د بلوچستان عمومی ژبه بلوڅی ده چی ډېر خلک په دغه ژبه خبری کوی داژبه دوې مهمی لهجی لری او د (Iranion) (اریایی) ژبو په ډله پوری اړه لری په دې ژبه کی د فارسی ژبی اثر لېدل کېږی چی ددی علت هم د همدغو خلکو هجرت دی .[۲]

(۱۶) دغه ډول په انګریزی ډکشنری کښی د بلوڅی کلمه داسی معنی شوې ده چی داژبه د جنوبی اریایی پسه (Iranic-Class) پوری مربوطه ده .[۳]

(۱۷) میجر جورج مورګنسټر هم بلوڅی یوه آریایی ژبه بولی چی په شرقی کورنۍ کی شامله ده[۴] د پورتنیو تحقیقاتو له مخی موږ ویلای شو چی بلوڅی یوه اریایی ژبه ده او د اریایی ژبو په شرقی کورنۍ کی شامله ده او ددې ژبی اصلی ریښه هم د پښتو ژبی اصلی منبع ته رسیږی او دواړی ژبی سره خویندی او دیوې مور لوڼی دی .

د بلوڅی کلمی معنی او ریښه:

نوموړی لیکوال تر دغه عنوان لاندی لومړی د برهان قاطع او نورو قاموسونو په حواله لیکی چی د چرګ تاج ته وایی او یو ضعیف استدلال هم ورته راوړی او هغه دا چی دوی خپله لنګوټه د چرګ د تاج په ډول پیچی او دغه صفت په پښتنو او پنجاپیانو کی هم شته . دلته نوموړی لیکوال له تصور څخه کار اخستی دی او حقیقت بل ډول دی

د اولس مجله لیکی : بلوڅی یا بلوڅ د بلوچستان د خلکو نوم دی دا کلمه په پښتو کی بلوڅ دی د پښتو د تلفظ په لحاظ او دا چی په عربی کی د (چ) آواز نشته په عربی کی بلوص په اوستا کی بلوش په عبرانی کی بلوش په اشوری کی بروشو په آرامی پهلوی کی بروهو او په بلوڅی ژبه کی بلوچ ویل کیږی . ددې کلمی د تلفظ اختلاف د مختلفو ژبو او لهجو د اختلاف په سبب پیدا شوی دی . په عربی کی د (چ) آواز نشته ددې په مقابل په عبرانی کی (س، ص، ث) آوازونه نشته مثلاً د عربی (عاصی) په عبرانی (آهی) ویله کیږی او د عربی (حیث، ثمود، بعث) په عبرانی کی (حیت، تمود، او بعت) تلفظ کیږی او همدغه د بلوڅ لفظ په بابلی لهجه کی بلوشو ویله کیږی [۵]

مخکی له دې نه چی د بلوڅی کلمی معنی معلومه کړو غواړم چی د براهوایی د کلمی په باره کی هم یو څو خبری وکړم او لومړی

---

[۱] The Co Iuɯ bía Diking Desk Encyclopebia pp.qq A-K

[۲] ۷۰ 3 ,1829 E-A

[۳] Funkand wag nalls nêw Stàndard Dictìonâry of The English Iànguage-N-V-1961

[۴] د میجر جورج مورکنسټر رپوټ ۱۹۲۴

[۵] اولس کویټه بلوچستان په پښتو ژبه) ص ۲۰-۲۲ س ۱۹۶۳

داثابته کړم چی دا کلمه هم په اصل کی بلوڅ وه.
د پورتنی وضاحتونو له مخی هر کله چی د-ل او، س، ش، چ، ص ټول یو لفظ او هم مخرج آوازونه دی نو ځکه یو په بل بدلیږی [۱]

اوس نو که مونږ د بلوڅی کلمه د آرامی پهلوی ژبی د لهجی او تلفظ مطابق ولیکو چی په هغی کی ل = ر، او، چ، س = ه تلفظ کیږی نو په دې شیان په همدغه لفظ د بلوڅی بروهی شوې وې نو په دی ترتیب مونږ دی نتیجی ته رسیږو چی بلوڅ او براهویی دواړه یو قام او په نومو نو کښی فرق راغلی دی او د لهجی اختلاف هم له دی باعثه دی چی په براهویی ژبه باندی د پردو ژبو اثر پریوتی دی او په دې اعتبار موږ دا نتیجه هم اخستی شو چی د دی دواړو ژبو بلوڅی او براهویی او یونکی خلک د تاریخ

په پخوانی زمانه کښی په د وو بیلو بیلو تهذیبی او مدنی سیمو کی څه زمانه ځانله جلا او سیدل شاید د همدې اعتبار اتو له مخی ځینی کسان چی ژور فکر نه لری دوی دوه جلا قومونه بولی میرګل خان نصیر د بلوچستان

په تاریخ کی لیکی :

د بلوڅو هغه قبیله چی په برز کوه کی د پښتنو (او غان) سره یو ځای او سیدله او وروسته تر هغو نښتو چی د دوی او دا نوشیروان ترمنځ وشوې دوی بیرته خپل اصلی وطن بلوچستان ته راغلل او په کلات کښی ئی یو محلی حکومت جور کړ په دغه وخت کی دراوید یانو دوې ته برز کوهی ویل چی وروسته بیا بروهویی او اوس بـــــراهویی یعنی (وپه ا) بدل شوی دی او په سندی ژبه کی اوس هم دا کلمه بروهی ویل کیږی [۲] د اسلام دایرة المعارف لیکی چی بلوڅان په دوو ګروپونو باندی ویشل کیږی (براهو او بلوچ)

لنډه دا چی دوی دواړه یو قام او دیوه پلار زامن دی او کوم جزئی فرق او توپیر چی د دوی په ژبو کی لیدل کیږی د دی خبری برهان نه شی کیدای چی دوی مختلف نژادونه دی.

اوس نو بیرته خپل اصلی مقصد ته ځو :

ښاغلی جعفری د انګریزی منصبدارانو په وینا باندی اتکاء کوی او وایی چی بلوچ د هند راجپوتانو یوه ښاخه ده.

راجپوتان په هند کی یو ډیر لوی بهادر قام دی چی د دوی فداکاری په هره دوره کښی د هند د تاریخ افتخار ګڼل کیږی نو که دا حکم د بهادری او میړانی په لحاظ وی البته بلوڅان د هغوی سره په دې صفت کی شریک دی مګر د قومیت په لحاظ کوم ارتباط ورسره نه لری.

دی وایی چی بلوڅ کلمه اصلا ملیچه ده دا نو څنګه کیدای شی چی (م) فوراً په (ب) بدل شی ! یا دا چی بدروچ ورته وائی نو ګمان نه کوم چی (وپه ل او د په و بدل شی).

بل ځای دی وائی چی بیلوس د دوی د خدای نوم ؤ او دغه نوم ئی په ځان باندې ایښی دی او دا کلمه اصلاً یونانی ده.

بیلوس د بلوڅانو خدای نه ؤ بلکه د دوی ستر نیکه ؤ او دا کلمه څرنګه چی نو موړی لیکوال ګومان کړی یونانی نه ده بلکه آریایی کلمه ده. ممکن چی په یونانی ژبه کښی هم دغسی یوه کلمه موجوده وی لیکن په هره ژبه کښی چی یوه داسی کلمه موجوده وی هغه د بلوڅانو خدای یا ستر نیکه نه دی په آخر کښی ښاغلی جعفری اصلی حقیقت ته نژدی کیږی او وائی چی د بلوڅ کلمه له دؤ اجزاؤ څخه مرکبه ده (بل او اوچ) او بل د فارسی (پهل) دی مګر زه وایم او خبره په همدی ځای ختموم چی (بل) په براهویی او سانسکریت کی د لوی معنی

---

[۱] اولس کویټه بلوچستان (په پښتو ژبه) ص ۲۰- ۲۲ س ۱۹۶۳
[۲] د اسلام دایرة المعارف لومړی ټوک ص ۱۹۶۰ ص ۱۰۰۵

ورکوی او د بل کلمه تر اوسه پوری په براهوی ژبه کښی استعمالیږی او د الاندی شکلونه لری (بل بلا، بلون، بلو) مثل قوم نا بلا، (د قام مشر) بلا بندغ (لوی سړی) بلو کړاس (لوی څیز) او په بلوڅی کښی بلی او بلوك اناته وائی چی په دوی کښی هم د لویوالی معنی پرته ده او د اوچ اصلی معنی بهادر دی نو د بلوچ د کلمی معنی لوی بهادر او غیرتی دی

که چیری د دغه نوم صفت د ده په موسوم کی موجود نه وی نو ښاغلی لیکوال د اعتراض حق لری لنډه دا چی د بلوڅ اصلی معنی لوی بهادر دی او دا معنی هرچا ته ښکاره ده نو که نوموړی لیکوال او د ده د مکتب پیروان نوری معناګانی ورته جوړوی هغه به د دوی خپل ځانی نظریه وی بل دا چی په ځینو کتابونو

کی د بلوچ سره د قفص یا کوفچ کلمه مترادفه راځی او د زیاتو کسانو دا خیال دی چی دوی یو قام دی حال دا چی دوی سره بیل دی لکه چی حدود العالم لیکی: «قفص ها از بلوچها می ترسیدند .... و به این حساب باید بلوچها از ضعف همسایه های خود استفاده کرده

باشند» دغه راز نوموړی کتاب زیاتوی چی د کوفچ معنی په پاړسو کی (کوه پیما) ده او په عربی رسم الخط کښی کوفچ په قفص لیکل شوی دی او د قفص قام د بلوڅانو له لاسه له خورا سختی ماتی سره مخامخ شوی دی (۱) دغه

راز هلته چی ښاغلی لیکوال د (تاج خروس) معنی د بلوڅ و کلمی ته منسوبوی په غیر مستقیم ډول دغه معنی د پښتون کلمی د پاره هم جوړوی.

دا خبره حقیقتاً د خندا وړ ده دې کی شك نسته چی د پښتون او بلوڅ قامونه په بهادری او

مړانه کی د دنیا د نورو قامونو په نزد د لوی افتخار او جیغی خاوندان دی او خپله میړانه ئی ټولو دنیاوالو ته د تاریخ په هره دوره کی په ګډه او په عملی توګه ورښودلی ده څنګه چی د دوی د دودونو عنعنا تو او حتی ژبو

ترمنځ کوم خاص او بنیادی فرق نشته او دواړی ژبی سره خویندی دی نو ځکه مؤرخین هم د دې دواړو قامونو په هکله یو راز فیصلی کوی.

مګر که چیری نوموړی لیکوال او د ده د مکتب پیروان د پښتون قام په باره کی معلومات نلری او د پکت، پکهت او پښت نومونه ورته نا اشنا ښکاری نو لطفاً دی داربائیانو هجرت ته وګوری تر څو چی د شك او تردید له دایرې نه ووځی.

اوس نو زه د لته د بلوڅانو او پښتنو د تاریخی ګډو کارنامو څخه یو څه بیانول غواړم:

ښاغلی بینوا د هوتکو په تاریخ کښی لیکی هغه وخت چی د ګرګین د ظلم او جفا تورې وریځی د افغانستان د ځمکی په یوه برخه کښی

خپری شوې او د څو ورځو د پاره ئی د ظلم او ستم بارانونه واورول او په دې پوه نه ؤ چی د دې خاوری د قومونو د غیرت په مقابل کښی د مقاومت توان او واک نلری همدغه دواړه قامونه (پښتون او بلوڅ) وه چی د جنګیالی

حاجی میرویس خان هوتک په مشری یی د ګرګین د ظلم او تېری ماڼۍ داسی ړنګه کړه چی د ګرګین او د هغه د پېروانو په خیال کی نه ګرځېده او دغه نکل تر اوسه پوری په تاریخ کښی د ګرګین تر عنوان لاندی موجود دی [۲] قاضی عطا الله خان د پښتنو په تاریخ کښی داسی لیکی:

---

[۱] حدود العالم حواشی او تعلیقات مینورسکی کابل ۱۳۴۲

[۲] د هوتکو تاریخ مؤلف عبدالرؤف بینوا د عقرب ۱۴-۱۳۳۵

په کلات باندی د انګریزانو د حملی په وخت کی ناصرخان د محراب خان زوی و تښتېد او د خپل پلار د حکومت د واپس اخیستلو د پاره د یوې مناسبی موقع په تلاش کی شو. د یوې خوا د بلوڅو قام د شاه نواز خان په خانی باندی بلکل رضا نه ؤ بل دا چی هغه د فرنګیانو په لاس

کښی یو بی طاقته او بی اختیاره سړی ؤ او په هم دې سبب هغه د بلوڅو قوم قدر او عزت نه شو حاصلولی چنانچه هر کله چی به هغوی ته موقع په لاس ورتله نو په فرنګیانو او د هغوی په سړو باندی به یی حملی کولی تر دې حده پوری چی یو ځل بلوڅو لفټننټ والپول کلارک

یو انګریزی افسر هغه د اوښانو له یوې قافلی سره بالکل تباه او لوټ کړو پس له دې هغوی او کا کړو کویټه محاصره کړه او ناصرخان د خپل پلار د حکومت د بیرته اخستلو د پاره میدان ته راووت.

ټول قبایل (پښتون او بلوڅ) د هغه تر جنډې لاندی را ټول شول ځکه چی د هغی علاقی د ټولو پښتنو نو دا یقین ؤ چی د محراب خان بی-ګناه فرنګیانو وژلی دی او د هغه پر ځای ئې خپل یو غلام زموږ پر سر باندی درولی دی

چی د دوی د استثماری ګټو د پاره هر ډول ظلمونه پر موږ کوی ناصرخان په لږه موده کی د خپل قام مشری په لاس واخیسته او لوی طاقت پی پیدا کړ.

او پر کلات باندی یی حمله وکړه که څه هم لفټننټ ډېر ژر له خپل حکومت نه کومکونه وغوښتل مګر د بلوڅو قبیلی پر سند حمله کړی وه.....[۱]

د اولس مجله د ډاکتر میر راقب (تواریخ بلوچ) په حواله لیکی چی د اتلسمی پېړۍ په منځنۍ دوره کی چی د مسلمانانو قدرت په هندوستان کی مخ پر ضعف روان ؤ مرهټو د ډهلی د تخت د نیولو هڅه کوله. د اخبر احمدشاه ابدالی ته و رسید چی مرهټه غواړی د هندوستان پایتخت له مسلمانانو نه ونیسی د دې ګران کار لپاره احمدشاه ابدالی

میر نصیرخان ته رجوع وکړه او د بلوڅو یو ننګیالی لښکر د احمدشاه سره روان شو او د پانی پت په میدان کی یی د مرهټو ټولی قواوی له منځه یووړی. په ۱۷۷۸ کی د علی مردان خان د مقابلی د پاره د احمدشاه سره د بلوڅو ۲۹ زره جنګیالی

میړونه ملګری شول په نښته کی فتحه د احمدشاه په نصیب شوه تر فتحی وروسته احمدشاه بابا د نصیرخان د مور پوښتنی ته ورغی ځکه چی د امیر منه په خپله د ابدالی کومک ته ورغلی وه او احمدشاه یی خپل زوی باله. احمدشاه د کویټی علاقه د پوړنی په ډول بی بی مریمی

ته ورکړه چی تر ننه پوری شالګوټ نومېږی[۲]

ښاغلی ملک الله بخش خان بلوچ بی، ای په خپل کتاب کی لیکی:

هغه وخت چی د مسلمانانو پاچاهانو پر هندوستان باندی حملی کولی د بلوڅانو کار نامی هر چا ته معلومی دی او کوم وخت چی همایون د ډهلی د تخت د بیا لاس ته راوستلو لپاره هغی خوا ته متوجه شو نو په لومړی ځل د بلوڅو

د توری شرنګ د ډهلی د کلا په دروازه کی واوریده شو د غه راز د محمود غزنوی د لښکر څلورمه برخه او د احمدشاه ابدالی د لښکر یوه

برخه بلوچ او نور پښتانه وه نو موړی لیکوال زیاتوی چی د مرهټو په جنګ کی لس زره بلوڅان د دین د خدمت په لار کی شهیدان شول

---

[۱] د پښتنو تاریخ دوهم ټوک. قاضی عطا الله خان جولای ۱۹۵۹ ص ۱۰۸-۱۰۹

[۲] اولس کویټه بلوچان

مګر مرهټو ته یې یو نه هیریدونکی شکست ورکړ. دافغانستان حکومت ددغی وروری مناسبانو په وجه خان اعظم میر نصیرخان ته دوفادار ورور لقب ورکړ [۱]

سربیره پردی چی دادواړه قامونه دمشترك ثقافت خاوندان دی یو بل مهم خصوصیت چی په دی دواړو قامونو کی مشترك لیدل کیږی هغه قبایلی روش دی چی هره قبیله دخپل ستر نیکه په نامه یادیږی لکه: احمدزی، اڅکزی اسماعیل زی، خروټی، منګل، بارګزی محمدزی ګورګك اوداسی نوری

حتی ځینی قبایل په پښتو کی شته چی هغه عیناً په هماغه نامه په بلوڅانو کی لیدل کیږی لکه خروټ، احمدزی، اسماعیل زی منګل ګورګچ اونورچی دغه خصوصیت په داسی حال کی چی په نور قامونو کی لږ لیدل کیږی ددی دواړو قامونو اړیکی لاټینګوی

په آخر کښی له هغو خصوصیتونو څخه چی ددی دواړو قامونو دژبو ترمنځ مشترك دی یو څو مثاله بیانول غواړم:

۱- لکه څه رنګه چی په پښتو کی د (ټ، ډ، ړ) آوازونه موجود دی او په پاړسو کی دا آوازونه نه شته همدا ډول دا آوازونه په بلوڅی ژبه کی هم استعمالیږی لکه: ډول، ټپ، وړی اونور.

۲- په دواړو ژبو کی صفت تر موصوف دمخه راځی.

۳- په دواړو ژبو کی لومړی مضاف الیه اووروسته مضاف راځی

۴- (ین) دنسبتی لاحقی په ډول په دواړو ژبو کی استعمالیږی.

۵- (یې) په دواړو ژبو کی ناخپلواك اضافی ضمیر دی ځکه یې، ډګار یې وروریې براس یې

۶- په دواړو ژبو کی داسی کلمی ډیرې دی چی په ساکن حرف شروع کیږی.

«دبلوڅی او پښتو او دبلوڅی او براهویې او پښتو د ارتباط په باره کی لطفاً د کابل مجلی ۱۳۴۲ کال دزمری اوتلی ګڼو ته مراجعه وکړی» ښاغلی جعفری دخپلی مقالی په سرکی وائی چی دایران په خاوری دپاکستان په باختری دافغانستان په جنوب باختری او د شوروی اتحاد دترکمنستان په ځینو برخو کښی یو ډول خلك هستو ګنه لری چی دوی ځانته بلوڅ او خپلی ژبی ته بلوڅی وایی او یو ډول ئی خپل اوسنی هیواد بلوچستان بولی؛ مګر بیاهم داسی کسان دی چی په مختلفو لهجو (خراسانی، پاړسو، کرمانی پاړسو، کردی، سندی، ملتانی، پنجابی، پښتو او عربی) خبرې کوی او له پاکستان نه نیولی تر عربستان پوری خپاره دی او سره له دې چی دپردو دامیزش په اثر دغو ټولو ته موږ بلوڅ نه شوو یلای بیاهم دوی ځانو ته دبلوڅ خطاب کوی».

۱- اوس نو ښاغلی لیکوال ته ښایی چی په دې پوه شی چی دوی حقیقتاً بلوڅان دی او دا نه چی یوازی دوی ځانته بلوڅ وایی بلکه ټول نړۍ وال دوی په دغه نامه پیژنی او ددوی تاریخی کارنامی نه یوازی دښاغلی لیکوال په تاریخ کښی بلکه داکثر وهیوادونو په تاریخونو کی دافتخار په قلم لیکلی شوې دی.

۲- دارشتیاده چی ددوی هیواد بلوچستان (محکوم جنوبی پښتونستان) او دوی دهمدغه وطن او خاوری زامن دی چی ددی خاورې په سر ددوی دځوانانو وینی تویی شوې او توئیږی او داورنګ او فرنګ په مقابل کی دریدلی دی، او که چیری تاسو ته دبلوچستان اصلی سرحد معلوم نه وی نو زه دیوه بلوڅ به صفت دتاریخی کتابونو په اسناد درته وایم چی (له کرمان څخه نیولی تر سند پوری ددوی سیمه او پخوانی خاوره ده [۱].

۳- ښاغلی جعفری به په دې پوهیږی چی ژبه هیڅکله په نژاد باندی تأثیر نه کوی او داچی

۱- دبلوچ قوم کی تاریخ کی چند بریښان دفتری اوراق. ملك الله بخش بلوڅ بی، ای ص-۲-۵

دمحیطی تاثیر و نو لاملہ پہ مختلفو محیطو نو کی د بلوڅانو یوه محدوده برخه پہ بیلو بیلو ژبو خبری کوی ستاسو ددې تاریخی څیړنی دلیل نشی کیدای چی ګویا دوی متخلف نژادونه دی بلوڅ پہ هر ځای کی چی وی او پہ هره ژبه چی وغیږی بیا هم بلوڅ دی نه عرب کیدای شی نه ترک او نه بل څه .

بناغلی جعفری دخپلی مقالی پہ بله کرښه کی وایی چی بلوڅان دحضرت حمزه یعنی دحضرت پیغمبر د کاکا اولاده ګڼی او ددی خبری دا ثبات د پاره یو نیم بلوڅی بیت هم راوړی مګر لکه څنګه چی وروسته بناغلی لیکوال پخپله هم اعتراف کړی، کوم حمزه چی پہ بلوڅی اشعارو او یا نکلو نو کی راغلی دی له هغه نه مراد حضرت حمزه نه دی حمزه د بلوڅو دیوتکک ستر نیکه ؤ پښتانه او بلوڅان تل پہ خپلو میړنو نیکو نو ویاړی او دهغو نومونه پہ خپلو اشعارو کی راوړی .

بل داچی نوموړی ادیب براهویی خلکو ته بومی اوددوی ژبه د ستر لیاد بومیانو د ژبی سره یوشان ګڼی او یاداچی وایی پښتانه ځانته بنی اسرائیل وائی نوداد نوموړی لیکوال پہ معلوماتو پوری اړه لری مګر نه براهویان داسترلیا بومیان او نه پښتانه د اسرائیل اولاده ده بلکه براهویان سوچه بلوڅان او پښتانه د پکت او پښت اولاده ده .

بالاخره وروسته له ډیری مجاهدی نه بناغلی جعفری دخپل زړه رازښکاره کوی او وایی چی بلوڅان اصلاً ایرانی دی . مګر که چیری دده مراد د ایرانی نه اریایی وی زه هم دده دخبرو تائید کوم او که چیری بله معنی ګڼی مراد دوی هغه دده پہ وطنی احساس پوری اړه لری دی دډاکتر لاتام دلیکنو پہ استناد وایی چی کرد او بلوڅ یو قام دی حقیقت دی چی کرد د بلوڅو یوه ښاخه ده اود تاریخ پہ ډیرو زمانو کښی اوغان، کرد، او بلوڅ یو ځای سره اوسیدل اود ننګ پہ کار کښی سره متفق وه لکه چی فردوسی هم پہ شاهنامه کښی ددوی ځای برز کوه بولی او پہ هغه کښی د بلوڅانو مناسبات د ایران د هغه وخت له شهنشاه سره ښیی .

چنین ګفت دهقان دانش پژوه — مرا این داستان راز پیش ګروه
که نزدیك زابل دوسه روزه راه — یکی کوه بود سر کشیده به ماه
به یك سوی اودشت خرګاه بود — دګر دشت زی هندوان راه بود
نشسته دران دشت بسیار کوچ — ز اوغان ولاچین و کرد بلوچ [۲]

بل ځای وایی :

همی رفت وآګاهی آمد به شاه — که ګشت از بلوچی جهانی تباه
بکار بلوچ ارجندارد شیر — بکوشید با کار دانان پیر
نبود سودمندی به افسون و رنګ — نه از بند و رنج و نه پیکار و جنګ
زګفتار دهقان بر آشفت شاه — بسوی بلوچ اندر آمد براه

او پہ آخر کی داسی وایی :

از ایشان فراوان واندك نه ماند — زن و مرد جنګی و کودك نه ماند
سراسر به شمشیر بګذاشتند — ستم کردن کوچ بر داشتند
بشد ایمن از رنج ایشان جهان — بلوچی نه ماند آشکار و نهان [۱]

اوس دی نو بناغلی لیکوال پخپله قضاوت وکړی چی که چیری بلوچ واقعاً ددوی پہ اصطلاح (مالی ایران) وی نو ددوی دارتباط او ورورولی تاریخ ولی له دومره خونړیو او بدوخاطرونه ډک دی .

کابل

---

[۱] شاهانه - فردوس [۲] شاهنامه فردوسی (ج) ۴ (ص) ۳۸۴

لیکونکی رهبر فاروقی
دالماسو اصلیت او ماهیت

۵

مترجم عبدالقدوس [ن]

د کوه نور الماس

مهاراجادی پخپله راسی زه تاسی نه پیژنم .
رنجیت چی داواورېدله بیله ډالو ډیله څخه فوراً مخ د شاهدری پر خوارارهی شو - شاه شجاع ؤ دی سره مخامخ شوه دده ملعونیت لاس ورد مخه کړ مګر شاه شجاع خورا دماتی خوار وغبړ ورسره وکی او پر فرش باندی مخامخ سره کښینستله دواړه پټه خوله ناست وه شاه شجاع د فکر په سیند کښی داسی لاهوؤ چی په هیڅ نه پوهیدی او دراجا هغه مصایب چی پرده او دده پر ماندینی باندی ئی راوستلی وه ترستر ګو دوری هیسته کیده له ډیره زوره څخه به لکه دم کړی دیګ پر له غوټیدی او له ځانه سره به ئی د اویل هی افسوس نن هغه ورځ ده چی ترځان را باندی ګران کوه نور زما له لاسه وزی دده پدې اندیښنو کښی د کوه نور په ورکړه کښی لږ څه ځنډ پیښ شو دراجا د صبر کاسه لبریزه شوه نو ئی وخپل یوه خاص نوکر ته اشاره وکړه او په غوږ کی یی ورته وویله چی شاه شجاع ته پټ د کوه نور د مدعا یادونه وکه هغه راغی او شاه ئی په مطلب پوه کی د بیچاره شاه ترستر ګو اوښکی راغلی او په نیولی آواز سره ئی خپل نوکر ته وویله نوکر هم ولاړی کوه نور ئی په ټکر کښی پیچلی راوی او رنجیت سنګ ته ئی تسلیم کړ .

پنځم فصل

د رنجیت سنګ تر قبضی د مخه د کوه نور تول

ځینو مؤرخینو لیکلی دی چی د کوه نور وزن د رنجیت سنګ تر قبضی د مخه ۳۸ قیراطه کم شوی ؤ ګومان کیږی چی شاه زمان یا شاه شجاع به دارامی له مخی یو څه ټوټی ځنی پری کړی او خرڅی کړی ئی وی د دکن تاریخ لیکونکی لیکلی دی کله چی دا الماس رنجیت ته پلاس ورغلی وزن ئی ۴۲ ماشی ؤ .

د کوه نور قیمت

رنجیت سنګ یو وخت له شاه شجاع څخه د پورتنی الماس د قیمت پوښتنه وکړه شاه وخندله او وی ویل قیمت ئی (بخت دی بخت) کله چی رنجیت د شاه شجاع ماندینی ته لیک لیکه نو په هغه کی ئی د دې الماس د قیمت معلومات هم ځنی و غوښتی .

بیګمی ئی په جواب کښی داسی ولیکله که یو سړی پنځه ډبری و خلی څلور ئی څلورو خواؤ ته او یوه ئی د آسمان وخوا ته په بشپړ قوت سره وغورځوی او د اخلاوی ئی په سر وزرو او جواهراتو سره ډکی کړی لا دا قیمت ورلره لږدی .

د هغی زمانی جواهرات پیژندونکو ئی د قیمت اندازه لس لکه پونډه ټاکلی ده د آئینه جوهری مؤلف لیکلی دی :- که یو سړی د شاه شجاع او رنجیت سنګ د کوه نور د غوښتلو ملاقاتی منظره لیدلی وای نو هغه وخت به پوهیدلی وای چی شاه پدې موقع کښی له څومری حوصلی څخه کار واخیستی چی ټوله حاضرین هک پک ورته ولاړه .

د رنجت سنګ ظالم د ظلمو یوه شمه

د کوه نور له ورکړی څخه دوې ورځی وروسته وشاه شجاع ته له ماندینی سره د ملاقات کولو اجازه ورکړه تقریباً یوه هفته ئی لا نه وه ورسره تیر ر کړی چی د کشمیر د حاکم سردار محمد عظیم خان سره ئی د خط و کتابت په تهمت سره چی حقیقت ئی هم نه درلودی بیرته د بندی خانی شومه کی .

درنجیټ سنګ په قبضه کښی د کوه نور تول

هغه وخت چی دوزیر فتح خان او رنجیټ ظالم په مابین کښی په ۱۸۱۶ عیسوی سنه کښی څه ګړ وبړ پیښ شو او رنجیټ د مقابلی لپاره پیښور ته تلی نو شاه شجاع خوار ئی سره لدې چی د خناق په سخت مرض اخته ؤ له ځانه سره بوتی تر رهتاس پوری لانه ؤ رسیدلی چی دوزیر فتح خان د پیښور د خوشی کولو خبر ئی واوریدنو لدی سببه څخه رنجیټ بیرته لاهور ته راغلی او شاه شجاع ئی په راولپنډې کښی درام سنګ نومی تر نظارت لاندی پریښووی هلته دغه رام سنګ نومی سر کوزی هغه خواری پر راوستی چی چا په ستر ګو هم نه وی لیدلی کهرك سنګ نومی یو بل ظالم به ئی هره ورځ مالونه تلاښی کوله او پدی ترڅ کښی چی به ئی هر شی د بود پلاس ورغلی غلا کاوه به ئی ددی ظلم اصلی وجهه درنجیټ اشاره وه غوښته ئی چی پدی ډول سره له غیر مستقیمی لاری څخه د معلیه خاندان مشهوره یاقوت ځنی لاس ته کی مګر افسوس چی څه ئی لاس ته وره نغله نو ئی لاهور ته د پیاده راوستلو حکم صادر کی .

هغه نازونی شاه ئی په خورا بدحال سره لاهور ته راوستی او په داسی زندان کښی ئی واچاوه چی پر سر د مځکی دوږخ ؤ او علاوه پر هغه ئی یو داسی حیوان طبعته سړی پر سر پرست کی چی د انسانیت یو اثر هم پکښی نه ؤ شاه ته به ئی هم سوال جواب په ښکنځلو سره ورکاوه .

دی وضعیت خورا تنګ کړ او هر وخت به ئی د ځان دوژلو اراده کوله مګر چی بیا به ئی له ځانه سره فکر وکی چی مرتت به له دنیا تیر شم نو بیرته به له عزمه څخه راوګرځیدې چنانچه په خپلو وقایعو کښی ئی اشاره هم ورته کړیده .

دران حین از فرط ملالت جامه راد و برچاك میکردم و پنجه از آزردګی بر دل غمناك می زدم چرا که از گردش فلك کج رفتار عرصه روزگار بر من تنګ و پای افتادم از هر سو لنګ شد و به جز فرار چاره نه جستم آن را پسندیدم اما با بستی و ګرفتاری عیالم پا بسته و ګرفتار زیرا که ترك ایشان منافی شیوهٔ غیرت و همت بوده خصوص در دست چنین معاند سالوس احسان فراموش (مراد رنجیټ سنګ) پس لاعلاج اول در تهیه کشیدن (انتظام رهائی) عیال شدم و چنان کردم که در خفیه بیرون شهر ګاډی ها را مقرر آن نمودم و به ذریعه زنان غربای هنود که در حرم تردد داشتند بعضی از معتمدان را که بجهت آن مقرر بود امر شد که چهار مرتبه اهل حرم را ده ده نفر تغیر لباس نموده مثل زنان هنود ساخته ګاهی به بهانه ئی سیر سحر او دمی چند بعذر شنا ئی دریا بقراری که معمول آن قوم بود بر آوردند و در ګاډی ها که منتظر آن قابو بودند نشانیده بصوب لودهیانه که آن بجهت دوستی با دولت انګلیس جای خود می دانستم امر بردن فرمودیم .

درنجیټ سنګ ظالم د ظلمو یوه بله شمه

شاه شجاع چی خپل ټوله عیال د لباس د بدلون په ډول سره درنجیټ ظالم له حرم سرایه څخه ویستل پر پنځم واری باندی داپټ راز معلوم شو او چو پړیانو د شاشجاع و ړوکی زوی رنجیټ ته وړاندې کی هغه پسله قهره

«نور بیا»

دفی عالم الرؤیا له عربی کتابه څخه

لیکونکی جبران خلیل جبران

مترجم (نجیب)

دخوب په عالم کښی

په یوه اوږده شپه کښی چی دمځکی پرمخ باندی دظلمت تور څادر غوړیدلی او ټول کائنات درانه خوب وړی وه زه دخوب له بستره څخه مخ د سمندر پرلور وپاڅیدم په لار کښی می له ځانه سره ویل (سمندر خو نه بیدیږی نو ځکه ئی د اوښتوب وویښ روح ته تعزیت دی) په همدې چرت کښی روان وم ترڅو چی د سمندر وغاړی ته ورسېدم هلته می روڼی او به ولیدلی چی سپین ځګ ئی دپاغوندی په څیر سره پرمخ باندی خپورؤ په شورکی به د غرو له لوړی سطح څخه را بهیدلی او په نژدو نواحیو کښی به داسی خپرېدلی چی تا به ویل دښکلی پی مخی پیغلی پرمخ خړ سالورا ځوړندیږی دڅپو دلښکرو جوش وخروش او دکائیناتو وبخښل سووقواؤ ته حیرت یووړم او په دې فکر کښی شوم چی یا الهی داڅه سیر دی چی ګاهی داقواوی له باده سره په تیزی کښی ملګری وی کله بیا له اورغورځونکی غره سره دسرې لمبی په څیر سره ښکاره شی یووخت دګل په پاڼو کښی خندا او بل وخت په ستر ګو کښی ژړا شی .

ددې اندیښنو په حین کښی می ناڅاپه له اړخ سره نېژدی ودرو اشباحو ته پام شو چی پر یوه غټه کر کنډه باندی ناست وه نه سوه را معلومه چی دځګ نازکی پردې ددوی مرموز بدنونه مستور کړه او که ئی نه وه کړی خو په هر حال ماددوی وخواته خپل قدمونه چابک کړه مګر یودم بی ارادی ودریدم او په یوه سحری قوه سره می عزم جامد او دروح خیال می بدلون پیدا کړ .

له هغو اشباحو څخه یوو درېدی او په مرموز آواز سره ئی دبحر له اعماقو څخه داسی وویل (ژوند بیله محبته څخه دهغی ونی په څیر سره دی چی میوه او ګلان نه لری او حب بیا بیله جماله څخه دبی عطره ګل او بی تخمه میوی حیثیت لری ژوند، حب، او جمال هغه اقانیم ثلاثه دی چی په یوه واحد مستقل ذات کښی نه تغیر قبلوی او نه دانفصال لرونکی کیږی تر دی څو لنډو وینا ؤ وروسته هغه سمدستی کښینستی او بل یوولاړ شو او په داسی مرموز ډول سره ئی چی تا به ویل نری، نری او به بهیږی خپل مطلب په دې ډول سره اداکړ (ژوند بیله تمرد څخه دهغو فصلو حیثیت لری چی پسرلی پکښی نه وی تمرد بیا بیله حقه څخه دوچی صحرا پسرلی دی چی لطافت او فیاضی ئی هیڅ فایده نه ورته کوی (زه حیات، تمرد او حق دری اقانمیه بولم چی په یوه واحد ذات کښی نه تغیر قبلوی او نه انفصال) .

ده چی خپله وینا ختمه کړه دریم ولاړ سو او دتالندی دغړو مبی په څیر سره ئی داسی وویل:

حیات بیله آزادی څخه بی روحه جسم دی او حریت بیا بیله فکره څخه دمشوش روح حیثیت لری (زه بیا حیات، حریت، او فکر پخپل واحد ذات کښی دری اقانیمه بولم چی نه مضمحل کیږی او نه زوال پیدا کوی بلکه ابدی دی .

بیا نو دری سره اشباح په یوه سلاو درېدل او په ګډه سره ئی داوویل حب، تمرد، او حریت دخدای مظاهر دی .

دوی چی داویل زما سترګی سره ورغلی چی خلاصی می کړی غیر له بحر څخه می بل شی ونه لیدی چی او به ئی سر له ګارو څخه واهه او په شر شر بهېدلی ژر وهغی لویی ډبری ته چی هغه دری اشباح ترناست وه ورنېژدی شوم څوک می ونه لیده بلکه دبخار یولوی ستون می ترستر ګو شو چی سر ئی وآسمان ته جګ شوی ؤ .

ادبی نثر

نور می مه زهیروه

شپې او ورځې په انتظار کښې را باندې تېرېږي .

له ډېره انتظار مې سترګې وچې شوې .

ستا د ملالو سترګو، ګلابي رخسار، اناري شونډانو او نريو وريځو تصور هر ګړي نوي نوي رنځ راته پېښوي.

ستا د زړه وړونکي شيرين آواز په اروېدو پسې مې غوږونه ستړي شوه .

ستا هغه د نازتګ چې را په يادشي ډېر مې زوکلوې، او د يوه تازه درد وخواته مې رهنمائي کوې .

ستا د غوښتلو ډېر فرياد او التجا مې خوله ستړي کړي او اضافه ملګري نه راسره کوې .

ستا د موندلو په تلاښ پسې مې د بدن ټوله غړي ستړي او ستومانه دي .

ستا د بېلتانه غرنړوونکي غمونه اضافه زما په داوړوکي ټوټه (زړه) کښې د استوګي طاقت نه لري.

نو په ډېره عاجزۍ درته وايم: «دا ستمونه بس کړه» .

نور مې مه زهيروه .

که دي دا ستمونه راڅخه ونه ګرزول زه به هره ورځ ديوه جهان غمونو سره مخامخ کېږم؛ او ته به په «ستمګره» سره مشهوره شې .

ددې داغدارو زړو څخه وبېرېږه او خپل ډبرين زړه دي نرم کړه؛ زه بېرېږم چې دا سنګدلي به دي دښايست وماڼۍ ته زلزله شي او در وبه ئې نړوي.

ګراني محبوبې! پدې بې دوامه ښايست مه خطا وزه؛ راشه راسره پخلا شه، او د محبت لاس دي په لاس کښې راکه .

پدې خوښي مه کوه، چې ستا دلاسه يومين پرهار زړه، ستا دلوبو آله وګرزي.

پدې خوښي مه کوه، چې ديو زهير سترګي د اوښکو څخه ډکي وي .

په دې خوښي مه کوه، چې ستا دلاسه يو مين د جنون په کړۍ کښې محاصره کېږي.

آخر رحم وکړه؛ دا بې پروائي او استغنا خپله پېشه مه ګرځوه .

وهم رالويږي چې ستا بې درمانه غمونه به ما هم دهلاکت وکندي ته شېوه کړي .

نو په ځړېدلي سر غوښتنه در څخه کوم چې بېلتون ته خاتمه ورکړه او «نور مې مه زهيروه»

غلام فاروق انورزي



په مزار شریف کښې د کیمیاوي سرې د جوړولو، او د برېښنا د تولید د فابریکې یوه برخه چې د هیواد د شمالي سیمو د لویو صنعتي تأسیساتو د جملې څخه دی. د کیمیاوي سرې د فابریکې کلنی تولیدي ظرفیت ۷۱ زره ټنه مایع امونیا ده چې له هغې څخه ۱۲۵ زره ټنه (ازوتي) سره لاس ته راځي، د حرارتي فابریکې د برېښنا ظرفیت ۴۰ زره کیلواټه اټکل شوی دی.